# نا آشنا سندري

ډاکټر سیّد بهاءُالدین مجرُوح



د افغانستان د مجاهد ولیکوالو ټولنه

٧٨٦

PROPERTY OF ACKU
722

# ناآشنا

# سندري

## ډاکتر سیّد بهاؤالدّین مجروح

سلسلهٔ نشرات انجمن نویسندگان مجاهد افغانستان

# دمطالبوفهرست

## لومړی فصل

الف : دپروفیسور مجروح لنډه پېژندنه

ب : یادونه


| | مخ |
|---|---|
| ۱ - ناآشنا سندرې | ۱ |
| ۲ - د وطن مور | ۲۵ |
| ۳ - دکنړ سیند | ۳۸ |
| ٤ - دیوې افغانۍ مورپیغام | ۷٦ |
| ۵ - توره بلا | ۱۰٤ |
| ٦ - څلوریځې | ۱۰۸ |


## دوهم فصل

ویرنې (مرثیې)

« دپوهاند ډاکټر سید بهاوٴالدین "مجروح" دشهادت له امله د افغاني شاعرانو او لیکوالانو ویرنې .

# دکتاب پیژندنه


دکتاب نوم : نا آشنا سندري

لیکوال : پوهاند بهاؤالدین "مجروح"

ناشر: "افغان اطلاعاتي مرکز"

خطاط : مختار محمد "مختار"

تیراژ : (۲۰۰۰) ټوکه

چاپخانه

دچاپ کال: ۱۳۶۸ هـ ش ۱۹۸۹ ع

## لومړی فصل

# د پوهاند مجروح لنډه پیژندنه

شهید دوکتور سید بهاؤالدین مجروح د افغانستان د نومیالی شاعر، ادیب او سیاستمدار ښاغلی سید شمس الدین مجروح ځوی دی چې د ۱۹۲۸ ع کال د فبروري په ۱۲ مه نیټه د کنړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د شینکورک د کلي په یوه روحاني کورنۍ کې زیږیدلی دی.

لومړني تعلیمات یې د شینکورک د کلي په جومات کې سرته ورسول او د فارسي مشهور کتابونه لکه ګلستان، بوستان او سکندرنامه یې ولوستل.

له څه مودې وروسته کابل ته د خپل پلار سره لاړ او د پارلس کلنۍ په عمر د استقلال د لیسې په څلورم ټولګي کې شامل شو. په ۱۹۵۰ ع کال کې د دغې لیسې د ادب او فلسفې څانګې څخه په لمړۍ درجه فارغ او د هغه وخت د دولت له خوا د عالي تحصیلاتو د پاره فرانسې ته ولیږل شو. د ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۸ کال پورې د پاریس په سوربن او بیاد

« مونت پلیه » په پوهنتون کې خپل عالي تحصیلات د روحیاتو
او فلسفې په څانګه کې د «مافوق لیسانس» په درجه سرته
ورسول . په هغې دوره کې يې وکړای شو چې د آلماني او
انګریزي ژبو ادبیات په غربي آلمان او انګلستان کې سرته
ورسوي .

په ۱۹۵۸ ع کال کې خپل هیواد ته راستون شو او په همغه
کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد او بیا رئیس
شو . په ۱۹٦۳ - ۱۹٦٤ کال کې د کاپیسا ولایت د والي په حیث
وظیفه اجراء کړه . د همغې کال په ورروستیو کې په غربي
آلمان کې د کلتوري رئیس په صفت مقرر شو .

مجروح درسي کار ترڅنګه د خپلې دوکتورا د پاره
کار پیل کړ او په ۱۹٦۸ ع کال کې يې د « مونت پلیه » د پوهنتون
څخه د ادبیاتو او فلسفې په څانګه کې د کتورا «۲» واخیسته .

په ۱۹٦۹ - ۱۹۷۲ کال پورې د دوهم ځل لپاره د کابل
پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد په حیث مقرر او
په همغې دوره کې د پوهنځي انتخابي رئیس شو .

په ۱۹۷۲ - ۱۹۷۳ کال کې د افغانستان د تاریخ د ټولنې
رئیس ؤ . ۱۹۷۳ - ۱۹۷۹ کال پورې د ادبیاتو په پوهنځي

---

«۱» اجتماعي احساس د الفرد ادلر په روانشناسۍ کې «۲» د ځان تربیه او «زموږ روانشناسي»

کې د فلسفې استاد په صفت وظیفه اجرا کوله.

د ۱۹۷۸ع کال د غوايي د کودتا نه وروسته چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، نو پوهاند مجروح هم د هجرت لاره ونیوله او د ۱۹۸۰ع کال د فبرورۍ په ۱۲مه نیټه پاکستان ته مهاجرت وکړ. دلته يې د افغاني مجاهدينو د مسلحانه جهاد په څنګ کې فرهنګي جهاد لپاره "د افغان اطلاعاتي مرکز" په نامه د قلمي جهاد د فتر پرانست.

دی که څه هم ژورنالیست او خبرنګار نه و، خو دا فیصله يې وکړه چې د افغانستان د ننه حالاتو څخه نړۍ وال په واقعي توګه خبر او د روسانو او د دوی د غلامانو تول فجايع او جنايات بربنډ او افشاء کړي.

په دغه برخه کې پاکتر مجروح د افغانستان په نظامي سياسي، اقتصادي او اجتماعي حالاتو تبصرې او تحليلونه کول او په نړيوالو کنفرانسونو کې به يې د افغانستان د مسئلې په ارتباط خبرې کولې.

پوهاند مجروح خپل ټول ژوند د علم او پوهې په خدمت کې تیر کړ، او د ژوند په وروستیو کلو کې يې خپل علم او قلم د خپلو مجاهدو او مهاجرو ورونو په خدمت کې په کار واچوه په دغه لار کې دده د لاس هغه وخت قلم وغوڅ شو چې

د اسلام، وطن او خلکو د ښمنانو لخوا د ۱۹۸۸ ع کال د فبروري په (۱۱مه) نیټه د جمعې په شپه د خپل د فتر ترمخه په پیسنبوں کې په شهادت ورسید.

إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

## یادونه

شهید داکتر بهاوالدین مجروح یو لړ علمي، سیاسي او ادبي لیکنې لري لکه: "اژدهای خودي" په پنځه جلده کې د ځانځانۍ ښامار "اژدهای خودی" پښتو ترجمه د آزاد شعر په قالب کې، د ښمن و پیژنئ، دشمن را بشناسید (دری) د جبر او اختیار دیالکتیک، صوفي او نوی دنیا، یو تعداد علمي مقالې او برسیره پردې یو لړ شعرونه.

خو د استاد مجروح شعرونه تر اوسه چاپ شوي ندي ده پخپله هم ځانته شاعر نه وایه او کله چې به د ده نږدې دوستانو ده ته شاعر و وایه، نو دی به په خندا شو او داسې به یې ښودله چې ګوندې دی شاعر نه دی. خو سره د دې هم استاد به کله ناکله شعرونه ویل. خو هیڅ کله یې خپل شعر په عام مجلس کې نه ؤ لوستلی.

استاد مجروح لکه د نورو فیلسوفانو په څیر د انسان ژوند او آزادي د معنی د لټون د پاره د حقیقت او معنویت د لارې ابدي لاروی ؤ، او د دې لارې په اوږدو کې کله د ځان او زمان (د ناآشنا سندرو) په شعر کې او کله هم د جهان او طبیعت څخه (د کنړ سیند) په شعر کې او ځینې وخت د یو ماشوم څخه (د توري بلا) په شعر کې په ډېره بې پروایۍ سره پوښتنې مطرح کوي، د استاد فلسفي

دید یواسې پټکی دعیني واقعیتونو درک کول او په زړه پورتیا ده غو بیانول دي چې د دې خبرې مثال مونږ د ده (دیوې پښتنې مور پیغام) او همدارنګه "د وطن مور" په شعر کې لیدلی شو. په دې شعرونو کې هغه لوی او عظیم واقعیت پروت دی چې شاعر لې په ډیر مهارت سره د مور او ځوی (لاروي) په د یالوګ کې په زړه پورې تیا سره بیانوي.

په حقیقت کې استاد سید بهاؤالدّین "مجروح" د حقیقت د لارې شهید دی. ځکه هغه څه چې ده لیدل ویل یې، یا نور و نه لیدل، او که لیدل یې نو د ویلو څخه یې عاجز وو.

مونږ د استاد هغه شعرونه چې لاس ته راغلل په دې مجموعه کې راټول او تاسو ته یې د ده د شهادت د کلیزې د نمانځنې په مناسبت وړاندې کوو.

"د افغان اطلاعاتي مرکز لخوا"

پیښور، فبروري ۱۹۸۹

# ناآشنا سندري

## شاعر او زمانه

شاعر:

هر ماښام هر مازیګر یم ، دګودر په لوري تللي ،
نیمه شپه پټ ، پټ ورغلی په پالنګ ئې ورختلی ،
هر سهار د بنګړو شرنګ ئې زه له خوبه پاڅولی ،
په تیاره کې د چرګ بانګ ئې بیا له غیږ نه یم شړلی ،

★★★

داشینکی خال د مه جبین ،
پیکی او ربل ، سرکي لبان هم
د سرو پیزوان ، هار لونګین
د زلفانو ښاماران هم
هم خرام ، خرام را تللی تلل
ما تل ستایلي دي تل

★★★

په خزان او په بهار ما
تل د ګل زیړ رنګ لیدلی
د بلبلو چغهار ما
غم ماتم د عشق بللی

★★★

د شمعې په رڼا کې ما ژړا لیدلې ده
ستې پتنګ ایره کې ما وفا موندلې ده

★★★

ننګ ناموس بخونو ستایلی
په پیغور یم شرمولی
په مورچو یم خیښ ولی
د مرګ لور ته لیږی استولی

★★★

د ناآشنا سندرې د کې پیمانې له واخله
په ژړا مې ژر ولې ـ زمانه ده
په سلګو، سلګو له ځانه شوم ستومانه
لټوم اوس بل جهان بهر له ځانه

★★★

ساقي راپاڅه ! نوی جام نوي شراب غواړمه
بل شان خیال، بل شان سوال، بل شان ځواب غواړمه

زوړ فصل پرېږده نوی باب نوی کتاب غواړمه
د نا آشنا لرې ملکونو افسانې را واخله
د نا آشنا سندرې ډکې پیمانې را واخله

## زمانه :

ای شاعره ! لیونیه !
زمانوم دی زمانه
ماته وایې د عمرونو پیمانه
ځوانې مې بې زواله
ښکلا مې بې مثاله
زه ساقي یم
خوساقي د مرګ او ژوند زهرو شرابو
خو هر چاته په هر ځای او په هر وخت کې نا آشنا دی
ځکه یو وار بې شکل کیږي
د ژوندون سندره ډېره پخوانۍ ده
خو هر چاته په هر ځای او په هر وخت کې نوې ښکاري
ځکه یو وار ویل کیږي :
د ژوند او مرګ رښتیا سندرې
پخوانۍ که او سنۍ وي
تل به نوې نا آشنا وي

تل به وي دعشق د سوز سندرې
راشه وا وره افسانې دژوندا و مرګ څو،
جاويدانه ترانې دعشق او مينې ....

# «اورفيوس» «اوريديسه»

داسې وائي، په قديم، قديم يونان کې
ستا په شانې يو شاعر ولېونی
په نامه د ( اورفيوس )
خوږ آواز يې د جذبو سازو سرودو
په سندرو کې يې پټ دعشق پيغام
نړاوښځي، لوی واړه به غونډ يدل پرې
د نغمو سحرا وجادو يې
محوه کړې ټول جهان و
د هوا مرغانو غوږ ده آواز ته
غرڅنې، زمرې، ليوان ورته آرام شول
باد به ودريد
سرودونو ورته څوړند
روان سيند، روان سرود ونه د ند يدل
تېرېدې کانې نه مېدل .

# "اوریدیسه"

یوه پیغله نازنینه
په ښکلا بدر جماله
د آسمان دستورو ناوې
شوه مینه په «اورفه»
عاشقان سره واده شول
خو د وصال شپې وې لنډې
یوه ورځې «اوردیسه»
ګرځیده د سویلو سره
په د ښتونو، چمنونو
یو شپونکی ئې د جماله لیونی شو
چه راګیر کړي «اوریدیسه»
ویلې: دا مرغه به ساتم
د خپل خوږن زړګي پنجره کې
"اوریدیسه" وار خطا په منډه، منډه
تښتیدله په د ښتو په غرو رغونو
یو تور مار ئې پروت کړه وړه په لار کې

«اورېدیسې» پرې ښېښنه کېښنوه ناځاپه
د اغزي زهر مهلك و
«اورېدیسه» له دنیا لاړه
«اورفیوس» په واویلا شو
په ژړا ئې کړیوان لوند کړ
د آسمان ځلانده ستورو نه ئې ګیله کړه
ارواکانو، خدایانو ته ئې زاري کړه
اجازه ئې د سفر غوښته د بلې دنیا خواته
چې پیدا کړي خپله ورکه «اورېدیسه»
نوروان شو د تورتم جهان په لوري
د ارواحو د امواتو قلمرو ته
«متاروس» د غار د خولې نه
ښکته لاړ د ځمکې تل ته
لومړی تیر شو د ارواحو د اشباحو له هیواده
د تورتم دد نیا ستر واکمن «پلوتون» و
ستر واکمنه «پروزرپینه»
«اورفیوس» ور ته حاضر شو په دربار کې
«اورفیوس» په داسندري
په زاریه، زاری ئې داسې ور ته عرض کړو
"اربابانو؟ ای د مرګ او د سپوږمۍ زمامدارانو ر؟)

دا مول تو، دا شیا حو د ارواحو با دارل نو
تول ژوی راسوان آخر رارسي دي د نیا ته
هیڅ لاره کومه چاره بله نشته بلې خوانه
نه نه ثروت، نه خزانې، نه کوم قدرت غوارمه
یم په نامه دعشق راغلی عدالت غوارمه
خپله د نیا دخپل ژوندون پټه معنیٰ لټوم
خپله میینه «اوریدیسه» دلربا لټوم
د ژوند د نیا په دیر بې وخته بې له ما راغلی
د عشق او ژوند قانون مات شوی نیمه خوا راغلی
یو واري" اوریدیسه" ژوندی را دعشق په پاس بیا
یخپل وخت به حاضرشو دې دربار ته لاس په لاس بیا
"اورفیوس" به داسندرې
په خواږه او په غمجن آواز ویلې
دا نغمه دومره خوږه وه سحر آمیزه
چې تورتم کې ارواحکانو به پرې اوبنکې تویولې
د وزخي دنیا ساکته شوه حیرانه

# «پروزرپینه»

د تورتم د نیا واکداره ستر واکمنه!
په ژړا شوه

ها بيرحمه «پلوتون»
با دار دمرګ اوژوند
ستر تولواک دجهنم هم زښت غمګين شو
«اوريديسه» يې احضار کړه
دار وا حوله قطاره
«اوريديسه» مارچيچلې
ګوډه، ګوډه راننږدې شوه
«اورفيوس» کړله حاصله اجازه دستنيدو
دژوند دنياته
خو په يو شرط :
چې ترڅو د مرګ اوژوند له سمندره پورې نه وځي
تر خپل شا به (اوريديس) ته نظر نه کړي
«اورفيوس» په مخ روان شو
«اوريديسه» ورپسې
په تياره تورتم دنيا کې
دچوپتيا په دهليزو کې يې سفر کړو
دناآشنا سمندر غاړې ته ورو، ورو ورنږدې شول
دا هغه مرموز درياب و
چې تياره يې له رڼا جدا کوله، مرګ اوژوند يې يوله بله بيلول
«اورفيوس د خوشالۍ نه هرڅه هير کړل

شاته یې وکتل چې پوه شي
(اوریدیسه) پسې روان ده که نه،
(اوریدیسه) یې ولیدله
چې روانه وروپسې وه
اما یو دستر کو رپ و
یو دیدار و آخرین
یو د بل غېږ ته نښ دې شول
غېږ کې تش خالي هوا وه
بیا غبار شو، بیا دمه شوه
د تورتم دنیا په لوري «اوریدیسه» بیا ستنه شوه
«اورفیوس» د دې یاب هاخوا
د ژوندو په ساحل پریوت
بیا ژړا بیا یې واویلا کړه
خو افسوس !
د امواتو بیړۍ دا سې جاله وان و
هم سنګدله هم بې رحمه
د بې رحمو په فرمان و
«اورفیوس» یې نښ دې پرې نښور کشتۍ ته
ونړی، تنړی کرځیده د سیند په غاړه
په شپو ورځو یې نه خوب و نه آرام

کانو، بو تو به ژړل دده په حال
د مرغانو ځنا ورو ورو نه خوښ شول
«اورفه» او سنکي تو یولي
نغمې د عشق او مرګ به یې
په خوږ آواز ویلې، نه یې محکې نه آسمان ته اعتنا وه
نه د ځونو د سنکلا، د محبت ور سره پروا وه
شپه او ورځ ؤ د خپل عشق په غم کې ډوب
سنکلو پیغلو ورته دام د زلفو کیښود
خو «اورفه» د زړه مرغه نه شوه راګیره
پاس د خیال په آسمانو یې جګ پرواز کړو
آخر ځونه شو «اورفه» ته په غضب
یوه ورځ شولې راغونډې
نیت یې وکړو
چې : «اورفه» به زورو نو
چا ډبره، چا نیزه کړه له ترلاسه
هره تیږه یا نیزه چې د «اورفه» په لوري تلله:
د نغمې خوږه آواز به نرمو له
«اورنیوس» د پښنوخا وروته لویدله
ځونې ډیرې په غضب شوې
په دې نیت چې کړي آواز د نغمې ورک

نو ، په چغو شور ما شوړ ئې کړ و لاس پورې
آخر ورسیده تیږه خپل هدف ته
یوه نیزه هم د «اورفه» په وینو سره شوه
پیغلې تولې د غضبه لیونۍ وې
د «اورفه» بدن ئې تول توتې کړو
هر یو غړې ئې له بند بنده جدا کړو
سر ئې پرې کړلو د سیاب ته ئې غورځار کړو
د دریاب څپو په غیږ کې
د «اورفه» سر خاموش نه شو
نا آشنا ، نا آشنا سندرې ئې لا نورې هم ویلې
د سیند پورې هورې غاړو دا نغمې تکرارولې
د ځنګلونو د سیندونو الهی نه امر وشو
چې را تول کړي د «اورفه» توتې بدن
"لیبترا" نومي مقام کې
دې تول تول وکړو په خاورو کې آرام
داسې وائي :
د "اورفه" په خاورو باندې
یوه شنه ونه ده ولاړه
بې نیازه له بهار او له خزانه
یو بلبل پکې همیش جوړ وي ځاله

شپه او ورځ وايي نغمې په هسکه غاړه

خلك وايي :

د دنيا په هيڅ هيواد کې

د بلبل داسې خوږې سندرې هيچا نه دي اوريدلې

"اورفه" لاړ و "تاريوس" ته

د تورتم دنيا په غيږ کې

"اوريديسې" سره يوځاى شو يوځل بيا

*******

# شاعر :

نا آشنا قصه دې وکړه له دلبرې زمانې

دځه عجب پټ راز نه دى خبرې افسانې

عشق د مرګ په غيږ کې د ژوندون معنى پيدا کړى

ژوندې عشقه مرګ شي په بيلتون بقا فنا کړي

عشق د ژوندلو يه معنى ده د شعور په تورو شپو کې

عشق د شپې فاني رڼا ده د سحر په پلوشو کې

زه انسان په تامين يم ستا د غيږې په ارمان يم

تل ژوندى په آرزو باندې زه د عمر جاودان يم

تل د ستر ګو په رپ درومي د ما صنم تورتم، تورتم نه

سر کښ دان د رپسې ځم زه، د او امو جهنم ته

دا عالم خزان صحرا ده ، ته بهار ښې افسانه يې

تہ شراب دڅ و نڼا نہ لې
تہ ساقي د مرګ او ژوند د هستي لاربۍ زمانہ ئې
" او ر يد يسہ " جانانہ لې

## زمانہ :

ا ی شاعره ليونيه !
ستا جنون کي هوښياري وينمه
پہ اسرار د عالم پوه ئې
چې بيدار پہ نيمو شپو ئې
عشق او مرګ سره ملګری له ابده
عشق د مرګ سره دوستي هم دشمني کړي
عشق د مرګ سره منزلې اوږ دې کړي
عشق د مرګ سره منګولې دي وركړي ....
راشه ! واوره يوه بله افسانہ
شنہ لمن د هسکو غرونو
بہ وي تا ليدلې ديرې
پہ اوږدو وچو پو دروكې
بہ دې كړي وي ګذر
او ر يد لی خو بہ تا وي
يونا آشنا غبږ مكرر

که آوازدې په چاکړې پدې شان وي

راشه ! راشه ! زه یم دلته

نا آشنا غږ به وي ځواب داسې در کړې

زه یم دلته ! زه یم دلته ! زه یم دلته !

دا نا آشنا غږ د "انګی" دی

چې ځواب د هرچا وایي

خو هیڅوک یې له داستان خبر نه دي

## انګی :

وایي ، وایي چې پخوا ، پخوا یونان کې

یوه مشهوره الهه وه

ښکلې لور د هسکو غرونو

زېږېدلې په ځنګلو کې

ورزل شوې شنو درو کې

موریې نوم ورباندې کېښوده « انګی »

په پالنګ د شنیلو به یې آرام کړو

د بهار ورځې په شا باندې سوره به ګرځېده ....

"انګی" سرتر پښو ښکلا وه ، زیبایي وه

خو درلوده یې یو لوی عیب یو بد صفت

خبرلوڅه وه بې شانه ،

کېدله به ډېر زیاته
په خوله حاضر جوابه
ورو ستنۍ خبره تل کړې له "انګۍ"
یوه ورځ د ورځ "ژونونو"
مقتدره رب النوعه چا خبر کړه
چې میړه یې "ژوپیتر"
د ځمکو آسمانونو د مختاره زما مدار
چېرته پټ، پټ د ځنګلونو او چینو د الهو سره
کوي بوس و کنار
"ژونونه" شو حسوده
تروره کړ ځېدله خپل میړه یې لټولو
مخامخ شوه د انګۍ سره
"انګۍ" پیل کړو په خبرو
"ژونونه" د و مره شوه په سوال ځواب مصروفه
چې الهو فرصت پیدا کړو
زر زر لاړې شو لې پټې هرې خوا
چې "ژونو" شوله خبره له احواله
نو، له قهره یې "انګۍ" ته داسې وویل:
ای بې شرمې! خبر لوڅې!
په دې ژبه دې چې نه وغولولم

پس له دې نه به نور هیڅ د ر په کار نشي
پس یواځې به پیرې وا لئ تش خواب
همیشه به وروستنۍ خبره ستاوي
خو هیڅکله به آغاز د کلام نه کړي
یوه ورځې یو نا آشنا ښکلې زلمی
په نوم "نرگس"
د طبیعت دا رولکا نو نان ښین زوی
راوتلی و په ښکار د غرو په لوري
لومړی ښکار لئ په نصیب
د بې نصیبې "انگې" زړه شو
لیونۍ شوله له عشقه
پټه، پټه په نرگس پسې "انگې" شوله روانه
زړه ئې ډک و د خوبنو، خوبنو خبرو
خو آغاز ئې د کلام کو لای نشو
منتظره وه نرگس ته
چې لومړی یو څه بیان کړي
د "انگې" آواز تیار په شا به پروت و
یوه ورځ نرگس یواځې کرځیدلو
نور ښکاري یاران ترې ورک و په دروکې
داسې غږ کړ :

تاسي چرته یاست ؟ زه دلته یم، زه دلته !!
"انګی" زر ورته ځواب کړو چې :
زه دلته یم ! زه دلته !
د"نرګس" حیرانونکو سترګو
هاخوا دې خوا وکتل
خو هیڅوک یې نه لیدل
نو، بیا یې غږ کړ :
راشه ! راشه ! دلته راشه !
"انګی" زر ورته ځواب کړو :
دلته راشه ! دلته راشه !
"نرګس" بیا داسې ناره کړه :
ته ما ولې ځوروې، راځه چې سره یوځای شو ؟ !
"انګی" د زړه د کومي په اخلاص په محبت وویل داسې :
راځه چې سره یوځای شو ! راځه چې سره یوځای شو !
په جلتي شوله نژدې د نرګس خواته
چې لاسونه کړي تر غاړې ورچاپیره
کبرجن نرګس زر شاته قدم کیښود
ورته یې وویل :
مرګ مې قبول دی نه ژوندون مې ستا په غیږ کې
"انګی" ورته تکرار، تکرار ځواب کړو :

ژوندون مې ستا په غېبن کې! ژوندون مې ستا په غېبن کې!
"نرگس" تربنه سوان شو دورې، دورې
"انگې" له شرمه پټه په ځنګلو شوه
سنبلې جسم يې ورووروو محوه شو دعشق لمبه
غوبنې پلې يې په تدريج ويلې کېدې
له هر وکوي د برې جوړيدې
خو يوازې باقي پاتې ترابده يې آواز شو
په قديم عادت تراوسه ځواب والي چې څوک غږ کړي
آخري آخر خبره به هميش کوي "انگې"

# شاعر:

کائيناتو له گنبده
منعکس دعشق آواز دی
ماوراء له سنه او بده
يو ناآشنا عجيبه ساز دی
يا ني ماله زړه ختلی کوم غږ پاس دی
رامعلومه نه ده
دعالم په سمڅ کې ناسته پټ پنهان يي
"انگې" د زمانې :
منتظره ني ماغږ ته زړه پريشان يي

## ژمانه:

ای شاعره لیونیه !!
اننگی پرېږده پخپل حال
راشه را وره چې په څه شان د نرګس ګلبڼ وال شو

## نرګس:

نرګس یوائځې پهٔ اننګۀ ستمګرنه وُ
جفاکاره و بې رحمه
ښکلې پېغلې ئې څو ولې وې بې شماره
الهی ئې دردید لې وې لهٔ عشقه
یوه ورځې یوې پېغلې
چې عبث کوشش کولو
د نرګس زړهٔ دخپل ځان کړي
نوله ډېرې نا امید ی نه ئې دعا کړه :
ای نرګسه !



جفاکاره ، ستمګره !
مبتلا دې لهٔ خدای غوارمه دعشق په درداو رنځ
یوه معشوقه بې پروا ، بېرحمه ، کبرجنه دې نصیب شه !

د انتقام الهي دا دعا قبوله کړله
پټه په ځنګله کې یو چینه وه
د آیئنې په شان رڼه وه
او به یې لکه او ښکې څلیدې
غاړې فرش په شنیلو وې
یو ورځې په غرمه
نرګس تږې، ستومانه
له ښکاره شو را ستون، ګذر یې په چینه شو
سر یې ټیټ کړ لو او بو ته
چې کړي تنده خپله ماته
یوناڅاپه یې ولید خپل مخ
د اوبو په آیئنه کې
د نرګس شو داګمان
چې کومه ښکلې د اوبو روح
په چینه کې ورښکاره شوه
خمارې سترګو حیرانو
سپین جبین پیکې ولول
سرګې مسکې شو نډ نوغندل غاړې
د نرګس زړګې ویران کړو
لیونی شو

زړه يې بايلود په خپل ځان
نو، نړدې به شو او بوتر
ورخواره يې كړه لاسونه
خو تصوير به وركيده
محوه تار په تار كيده
او، څو شيبې به ورو وروسته دوباره راښكاريده
زاري كانې به نرګس كولې داسې :
اى بيرحمې! جفاكارې! ستمګرې!
داخه لولې ته په ما كوې ظالمې ؟
چې در ته لاس كړم راته لاس كړې
چې در ته خاندم راته خاندې
چې در ته ګورم راته ګورې
خو، چې در نږدې شمه خولګۍ وغوارم
نو رانه لرې ځې پټيږې ولې ؟
زما سنايست د جهان ښځولې كباب كړي هره خوا
زما ځوانۍ دالهو زړونه داغ كړي دي ډير
ته ولې ما ته اعتنا نه لرې ؟
يوه او ښكه يې له سترګو نه راتويه شوه
په چينه كې ولويدله
دا او بو په آينه كې يې تصوير كړو تار په تار

"نرګس" شو له فراقه اندېښمن
نو يې داسې هيله وکړه :
دلبرې نازنينې !
که خولګۍ نه راکوې مه راکوه !
که غېږ ته نه راځې ، نو مه راځه هېڅ
خو پټېږه مه
تش ديدار دې زما بس دی
اجازه راکړه چه تل دې تماشه وکړمه
"نرګس" هيرځان او جهان کړو
بې خبره د لوړو ونو د څېنې په غاړه کيناست
تماشا يې د خپل مخ کړه
زيړ ی رنګ يې زياتيد لو
سنګلا يې کميد له
ځواني يې کميد له
په قدم ، قدم د مرګ خوا ته روان شو
کله ، کله به يې چيغه کړه له زړه نه :
آرمان ، آرمان ! افسوس ، افسوس !
نو ؛ "انګئ" به داد در دچيغه بيا تکرار وله :
آرمان ! آرمان ! افسوس ! افسوس !
د "نرګس" بدن شو محوه ورو، ورو

PROPERTY OF ACKU 722

دمرګي درياب کې ډوب شو آخر
دسينه ونو الهو !
آر واګانو دا وبو
توری دا وښکو باران ونه کړلو
دچينې غاړې ته لاړې
د نرګس کالبد يې هرخوا لټولو
چې پرې جوړ دعشق زيارت کړي
مګر لټه بې فايدې وه
دکالبد کوم اثر نه و
خو په هر ځای يې دچينې نه
راشين شوی نا آشنا ګل و
لکه سترګه وه حيرانه
تماشايې دجهان کړه
په مخ کې يې زيړی رنګ
کين چاپېر ترې سپينې پاڼې
د دغه ښکلي ځوان دغمجنې خاطرې په يادګار ،
پدې ګل باندې نوم کېښود شو : « **نرګس** »

---

# شاعر :

لار وی دنيمې شپې يم

لړې، لړې منزلونه کړم بې ځایه
بې خبره و رپیږم
نه پیدا کوم دمه ځای ښکاري له وړایه
سترګال زما جمال دی
مین شوی یم پخپله په خپل ځان
لنډه لار د دلته وصال دی
د حیوان چینه ده زړه د هر انسان
د نرګس سترګې حیرانې
سرګردانې په سراب د آئینه کې
امیدونه، آرزوګانې
قطرې او ښکې دي د دهر په چینه کې

# د وطن مُور

دکوچني اختر په        د میزان ۲ مه ۱۳۵۵ کال ، کابل
مناسبت

زمانه شوله آخره
عجیبه خبري آورم
د وطن مورته یوڅا داسې ویلې :

## لاروی :

ای د وطن مورې !
په ماګرانې په زړه پورې !
زار قربان دې له میروشه
د سپین و شر و د شتوشه !
خو لعنت دې په بچوشه !

✻✻✻

اې د وطن مورې په ماګرانې !!
نن اختر دی ، بختور دی
داکمیس دې پرون تور و
نن هم تور دی

خوږ په توګ د ې ښېرې ، ښېرې
نوی نه شو ،
خو ، اختر دې مبارک شه
ګرانې مورې !

***

ای د وطن مورې !
ښه دی ، ښه دی
چې په توګ دې خوږ ځن دی
ښېرې ، ښېرې
د هیچا نه پکارېږي
نه خوږ ښېږي
ځکه ستا بچي ډېر نه ښتنه نارینه دي
خوږ ښوي د مور په توګ هم

***

ای د وطن مورې !
ستا بچي څنګه بچي دي ؟
انسان نه دی
د ی پخپله هم هیڅکله ،
ځان ته نه وائي " انسان " یم
ګله وائي " زه مرغه یم "

بیا پیښې کړي دمرغانو
کله والې «څناور» یم
په څلورو شي سوان بیا

***

ای د وطن مورې !
ستا بچي خو انسان نه دی
را ته و وایه خپل راز اوس
تا راوړی دی له کومه ؟
له کوم اصله ، له کوم ذاته ، له کومه نسله ؟ ؟

***

ای د وطن مورې !
را ته و وایه خپل راز اوس
ته چې پیغله ښایسته وې
څه پسات در باندې وشو ؟
دا ننګر تو شا بیدیا کې
ستا کوم غل د لاسرې مل شو ، ؟
یادشپې په ترکۍ کې
څه بلا وه ؟
په پالنګ دروختله

***

ستا بچي وائي :
"ځناور يم" خو باچا د ځناورو
"زه يم زمري پدې نړۍ ترما اتل نشته،
بل په کابل نشته، بل په زابل نشته"
په رښتيا چې ځناور دی
خو، باچا د ځناورو
بيکسانو، بيوزلانو ته شين پړانګ دی
غوښې خوري د کوندو، رنډو، يتيمانو
ما توې ورور او تربور خپل
چې زور زيات وربانديې برشي
نو، ګيدړ شي
چل وتې کړي
ځغلوي د کور چرګان بيا

***

دا عجيبه ځناور دی
ځکه هيڅ ځناور داسې کارنه کا
چې قوي وي خپل خپلوان خوري
خپل همنوعي ناتوان خوري
بيا چې زور وربانديې برشي
څوړ غوږ ونه لکه خر شي

ملائي ماته ،
ظلم او زور ته تسلمیږي
استبداد ته غاړه زړږدي
هم دده له برکته
استبداد ته پیداکیږي
ساتل کیږي
هم بیداره ، وفاداره
دقدرت درګاه ساتینه
دزړه وجاموخاوندته غاړې لاپې

***

ای دوطن موري !
راته ووايه خپل راز اوس !
انسانان خوداسې نه وي

***

کله وائي :
زه مارغه یم
جګ پروازی ، لوړ همتی
ږرنیکه زما عقاب دآریانا دی

***

ای دوطن موري !

خدایږ ته وګوره کیسه دي راته وکه !
چي مارغه ته ځنګ واده شوي ؟
څه درو شو ؟
انسانان خو داسي نه کړي
هيڅکله نشي اچولای

***

خو دا څرنګه عقاب دی ؟
بې غیرته ؟
چي شاهين پري راسنکاره شي
له اوچته
دا سرکوزی

د وښو لاندي پټيږي
سر په خاورو کي دننه
لکه پورته
دی عقاب نه دی تپوس دی
لټوي په ډيرانونو کي مرداري
ګنده ئې کړي شديارې

***

ای د وطن موري !
په ماڼوانې په زړه پوري !

دا بچي که ستا بچي وي
تُف لعنت دې پر دا هسې ژوند يدو شه

## مور :

لاسوييه! زما زويه!
ځواني مرګ شي
ګرېږي وړې نورې بس کړه!
ټپوسونه را نه مه کوه!
پيغله مسته بې خبره دد نيا وم
پر هوا په کرځېدمه
تر څو ناڅاپه ليونکي مې په هوا شول
خبر نشوم څه راوشو...
اى زما نا اهله زويه!
څه ټپوس کړې؟
دا زړې خبرې ولې يادوې تر؟
په پرهار باندې مې مالګې دوړوې تر
تېر وختونه خو تېر شوي
اوس ما بنام دى
شپه نن دې ده
تېرې شوې زما نې څه پکارېږي؟

دا نن شپه را ته بلا ده
د سبا ورځې داریږم

په ماهم پسات چې کیږي
د شپې کیږي
وهل کیږم، تړل کیږم
په تورتم کې
چې سبا شي بیا خبرشم
چې بچو، خپلو بچو یمه تړلې
یوه بل نوي میړه ته یې واده کړی
یوتربور لې دی شړلی
بل تربورته یې ورکړی
په دې شانې خرڅوي ما
په ظالمو، مستبدو، زورورو
په بار، باری ودوي ما
عمرتیرشو،
ناوې توب مې نه ختمیږي
داچې ته ورته تاریخ وای
څه بیان کړې ؟
داسې وایې :

"یوه ناوې وه چې سل کرت واده شوه"
هغه زه یم ،

اوس نو وایه !
چې په زور ظلم واده شي
څو ، څو واره
په جبري نکاح پالنګ ته رابنکل کیږي
په ویا ورځ سره د ولډ کې راوړل کیږي
بیا چې شپه شي توره شپه شي
په زور کټ کې ترل کیږي
وهل کیږي ،
چې تا ولې بکارت نه دی ساتلی ؟
اوس نو وایه !
ددې هسې مور اولاد به څه اولاد وي ؟
زما لږ غوندې امید ځو
دا چې به خدای را لوی کړي
سرییتوب به له چا نه ده کړي
درونه نظر به ئے نه وکړي
ظالمان به ئے نه وشړي هرخواته
پښپیل منځ کې به سره کیني

د انصاف او عدالت ترې بړکیږ دي
خولا اوس هم
د وی بچي دې سرې نشول
مورئې یوه ؛ بیل بیل پلرونه
یوله بل سره دښمني کړي ، تربګني کړي
د وی پخپله راولاړ شي
یو میړه ساته پیداکړي زورور
واک اختیار په لاس کې ورکړي
بیا ژړاکړي واویلا کړي
ماته ناست وي
راته وائي :
چې دا پلار مو پلند ردی
په مونږ ظلم او ناروا کړي
لاس ویه ! زمان ویه !
منه په یاد مې هغه شپه ده
زه بیده وم
ناڅاپې په ما خوږې شوې منګولې
خوله ځانه خبریدمه
لاس او پښې مې وې تړلې
خوله مې بنده ،

د قرنونو تجربه تکراریږي له

شومه غلی

ما وې وکړه بچو وکړه، هرڅه وکړه !

لږ لږ ؛ ورو ورو ،

چې سبا سهار رڼا شوه

نو کتل مې

یو میږی په کور کې ناست و

بدهیبتی

بد آشنا د تیږ کلونو

داخو هغه لیوه لی زما سردار و

چې له خدایه مرور و ، تل بندګانو ته بدقار و

یوه شیبه یې ما ته شاکړه مرور شو

لاړ وکېناست چرته غلی

په کلونو کلونو وروسته اوس و بیا یو ځل راغلی

زړه مې وویل : څه خبر یې، دغه زوړ آشنا چې بیا پټ پټ راغلی

کوم آفت ، کوم مصیبت یې دی لګه پورې تړلی

خو، بچو بد ذاتو و وې :

دا سړی نوی سړی دی

هغه نه دی

زمانه ده نوې شوې
پخوانۍ زماني لاړې
بيا به هيڅکله را نشي
تيري وختونه ، زاړه ظلمونه
نوی باب ، نوی کتاب دی
نوی ژوند دی ،
انقلاب دی ،
د سبا دنيا ر ڼا ده
ترکۍ به نوره نه وي

***

خو چې شپه شوله تور تم شو
بيا هم هغه تکول وو راښکول وو
د قرنو تجربه تکراريدله
شو مه غلی
څه موده لا تيره نه وه
چې زما پچې بد ذاتي
راته راغلل
په ژړا په واويلا شول
چې دا نوی پلار تره نورو هم ظالم دی
هم وهل ، هم تکول کړي

هم وژل کړي

***

ای نه ما کمبخته زویه ! لاړ ویه !
دا زړې خبرې ولې یا دوې ته
په پرهار باندې مې مالګې دوروې ته
د تیر وخت را یادول څه پکاریږي ؟
دا نن شپه را ته بلا ده
له سبا ورځې ډاریږم
چې بد کله ماتړي څوک
د بل چا لاس ته سپاري څوک



هیچ موجی از کنار این محیط اگاه نیست
من ز خود بیرون روم تا ساحلی پیدا کنم
«بیدل»

○

# دکتر سیند

ای زما د زړه دریابه !....

# نوټ ۱

عبدالرؤف "بېنوا" د پښتو ژبې او ادب ستر نامتو شاعر او ليکوال او د دې مجموعې د ليکونکي ښخوانی گران دوست ، په افغانستان باندې د روسي پوځونو حملې نه وروسته په کال ۱۹۸۰ ع کې د ببرک کارمل د حکومت په نمايندگۍ په ليبيا کې سفير شو . له دغې نېټې نه وروسته د وستانو خپله رابطه له ده سره قطع کړه .

لکه چې د روسانو يرغل او د کارمل او د روس پرچمي او خلقي غلامانو په قدرت کېناستل ، د افغانستان د پاره يوه ملي فاجعه وه ؛ د اشان د وطن د ښمنانو سره د "بېنوا" همکاري د پښتو د ادبي محافلو د پاره يوه دردناکه حادثه وه .

دی تر کال ۱۹۸۵ ع پورې په ليبيا کې سفير پاتې شو . د همدې کال د فبروري په مياشت کې امريکا ته د علاج د پاره ولاړ . دی د هډوکو د سرطان په بد مرض اخته شوی و . او شفاخانې ته د رسيدو تر مخه وفات شو . عمر يې د ۷۵ کلو په شا وخوا کې و - ويل کېږي چې په جنازه يې هيڅوک حاضر نه وو .

کاشکې جنگ کې د افغان په ننگ کې مړ وای
نه چې گور لوره وان شو له تلتکه

دا منظومه د آزاد شعر په بڼه په کال ۱۳۵۵ د عقرب په ۲۱ مه، د جمعې د ورځې په ۱۲ بجو د پښد جالي په غاړه شروع شوه، زه هلته د استاد "حبیبي" په ملګر تیا دیو رسمي هیئت سره تللی وم، او د سید جمال الدین افغاني د زیږیدو ځای په ځایپر پوښتنې موکولې.

استاد "حبیبي" د هیئت سره پښد ته پورې وُت، او په زیارتونو ګرځیده او دعا يې کوله چې که خدائ ج دهغو زیارتونو له برکته ورته د سّید او دهغه د پلار زیږید او استوګنې ځای وروښايئ. مګر څرنګه چې ماد کنړ سیدان پیژندل، د هغوی د پلرونو او نیکونو له کراماتو څخه خبر وم او ښه پوهیدم چې هغوی به د استاد "حبیبي" دعا هیڅ قبوله نه کړي، نو ځکه زیارتونو پسې لاړ نه شوم.

د جالې په غاړه د هغوي په انتظار کښیناستم او دکنړ سیند په تماشه شوم.

رښتیا هم د کنړ زیارتونو استاد "حبیبي" ته هیڅ ځواب ونه وایه. مګر د کنړ سیند نا سره خبر ے وکړې او د هغو خبرو څخه دا منظومه جوړه شوه

بیا داد آزاد شعر منظومه بناغلي "بلینوا" ته اهدا شوه. بیا یو کال وروسته په جلال آباد

کې د دلوې میاشت وه ، د پلارپه اشاره او توصیه دغه اوږده منظومه څه لنډه شوه او په دوه سوه اته اویا (۲۷۸) بیتونو کې ئې د مثنوي بڼه پیدا کړه .

## "دکړسیند" د آزاد شعر بڼه

داسې وه :

بینوا ته اهداء

که دې راکړه شرابونه دریابونه
په کاسو د آسمانونو
په سرو وینو د شفق رنګ
که نیشه شوم ، لیونی شوم
نوکیسه به درته وکړمه ستاخپله ، زماخپله

تهٔ با درده بینوا ئې
د پښتو ژبې باچا ئې
خدای دې ډوب کړه
ستاسندرو مې په غوږ کې انګازه کړي

سبنه سندره دځوانۍ ده
سبنه پیغام دځلمیتوب دی
تاویلي :"غلی غلی انقلاب دی ، بدلوي دزمانې رنګ"

○

دا رزنونه ، داخیالونه
څاڅکي ، څاڅکي تو ئیدل دزړه پیاله کې
بیا پیاله شوله لبریزه
بیا دریاب شو
دا زما دزړه دریاب شو
در روان شو ...
خدای دې ړوب که

دوهمه بڼه

# پلاره !

۱- پلاره ! تا وی: "ستا اشعار ډک له پیغامه
خو آزاد دي، تنګ تکور دي بې مقامه

۲- لنډې پوخ کړه، لنډې وزن کړه تمامه
نو به هله ستا خبره نه وي خامه"

---

۳- نو "زړه دریاب" مې بیا منبع ته ستون کړو
خپل داستان مې لړوبر دلته موزون کړو

۴- بیا یې واوره له آغازه تر انجامه
درته ښکاري اوس تمام که ناتمامه؟

جلال آباد، د دلوي دوسمه
کال (۱۳۵٦)

# دکنړ پرسيند تقريظ

گرت آيد يکي جوئي روان پيش
مدد بخشش ز آب ديده خويش

چې د خولې هم د باباجي وځي آواز دی
نوم ديو وينا خبرې، د بل ساز دی

د وينا مطلب: خبر، هدف، پيغام دی
موسيقي واره آهنګ تال او مقام دی

چې يو ځای سره هم وزن هم پيام شي،
شعر ېې نوم شي چې موزون د ښا کلام شي

هر پيام خو په مثال وي د شرا بو
او وينا وي لکه جام دمی نا بو

چې شراب ېې وي رنه پياله خير نه
د ساقي به ېې څوک ونه کړي ستاينه

کہ دې می وي ډیر رنه نشه بې ډیره
خو د لوښي صفائي دې نه کړه هیره

وسیله غایه بیل نه دي یو تر بله «۱»
واسطه لا څوک پیا مرکې پخپله «۲»

ستا څو دا شراب ډیر ښه دي هم يې جام ښه
هم وینا دې ده موږ نه هم پیام ښه

سید شمس الدین "مجروح"
جلال آباد
دلو - ۱۸ مه ۱۳۵٤

«۱» د دې خبرې پر ضد چې وائي »
او د دې خبرې په تائید چې باید هم غایه ښه وي او هم وسیله.
«۲» د مارشال ماکلون دې نظریې ته اشاره ده چې وائي :

# لاروی

٥- د کښې آزاده سینده! مست خراب یې
ناپایاب لکه زما د زړه دریاب یې

٦- نه دمه کړې، نه دریږې، نه آرام کړې
نه دې شانته، نه دې خواته نظر پام کړې

٧- هی بهیږې شور ماشور کړې تا بده
ماوراء د دې دنیا له ښه او بده

٨- هی روان یې دروې دروې تل تر تله
ابدي سندره وایې خوږه خپله

# دریاب

٩- زه راځمه دپا میر له هسک سواده
د پریانو، د دیوانو له هیواده

١٠- د غه سیمه زما سیمه له ما ښاده
دا دنیا زما دنیا، په ما آباده

١١- د استانو ند د مرګ ژوند راسره روان دي
هم دننه، هم دپروون، دهر زمان دي

۱۲- نه يې ورمه تل ترتله پردا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

## لاروي

۱۳- اى زما دزړه دريابه نا آرامه!
دابد په لورې درومې بې انجامه
۱۴- هى سوان يې ترچيې، چيې داستان يې
هم د نن ، هم د پرون د هر زمان يې
۱۵- ستا ساحل کې کړي ما ويرې خاپورې
قلاګې د شګو ماکړې ډيرې جوړې
۱۶- ستا په غاړه ماوهلي ډير دانګونه
ماپه خوب هميش ليدلي ستا موجونه
۱۷- ستا بهير ته ماکتلي په وار واري
ستا ګدرځاى د ديدار ود دلداري
۱۸- څه موده وم ستانه لرې پريوتلى
طالبي پسې وم دورې، د ورې تللى
۱۹- د سيندونو، دريابونو پورې غاړه
ماملکونه ، هيوادونه وليدل واړه
۲۰- شاګردي مې ډيره وکړه د پوهانو
د فرنګ د استادانو ، عالمانو

۲۱- اوس له ډيرې مودې ورو ستهٔ خپل ديار ته
يم راغلی ستا ساحل ته، ستا ديدار ته

۲۲- خوګمان مې هرګز نهٔ شي چې به تير وي
دا مودې، مودې کلونه دوه مره ډيرې

۲۳- ځکه ستا جهان ثابت، هرڅهٔ ثابت دي
ځنګل، غرونه هم په هغه شان ساکت دي

۲٤- نهٔ هم هاغه شان روان لې په بې لارې
کله کوزې، کله سم، کله په قار يې

۲٥- کله چپ شې غلی غلی خپل ځان خپور کړې
کله کاږ باندې ورخيژې شور رماشور کړې

۲٦- دا يې هی سندره وائې پروا نهٔ کړې
که څوک غوږ ږدي که نهٔ يې نهٔ يې ډسودا نکړې

۲۷- هرطرف ته يې روان بې التفات ته
نهٔ نظر کوې وخوا ته، نهٔ دې شا ته

۲۸- هی روان يې دروهی، دروهی تل ترتله
ابدي سندره وائی خوږه خپله

# د لرغونو افسانو
# قهرمان

۲۹- هلته وراندې ستا ترخنګه یو بزګر دی
پخوا لځه زړې جامې پټکی په سر دی

۳۰- هم تر مخه یې قدم، قدم روان دی
پخوانۍ زاړه، زاړه د ننګر غوایان دي

۳۱- په څادر یې ملا تړلې کړ ځیده کا
د پټکي شملۍ ځنې شا ته رپیده کا،

۳۲- پخوا زغاست دی خپل پټي کې په مالسپوړ
اوس هم کرځي، دا یې ژوند دی دا یې زور

۳۳- که لرغونی قهرمان د افسانو دی
مرګ یې نشته فرښته د آسمانو دی

۳٤- د آسمان په شنو دښتو کې زغلوي تل
عراده د لمر ځلانده چلوي تل

۳۵- دا جهان چې ابدي دی حال ویجاړ کلک
دا دې غوایو په ښکرو دی ولاړ کلک

۳۶- دی ثابت، عالم ثابت هرڅه ثابت دي
دی ساکت، جهان ساکت هرڅه ساکت دي

## د قیامت استازی

۳۷- هلته پورې غاړه پروت دی یو لوی کلی
اوس هم پروت دی په شنو ونو کې پټ غلی

۳۸- هم ترشا یې هدیره وه شړ او اکونه
اوس هم هغه هدیره شته هغه غرونه

۳۹- د ازل بانګې لګیا هلته آذان کړي
ابدي ناشنا پیغام، آشنا بیان کړي

۴۰- سپوږمۍ اوس هم غاړې تر آبده
ماوراء د مرګ اوژوند له سنه او بده

۴۱- پورې غاړه سپین جامات لوی چناران دي
هلته ناست د کلي خلک چپ حیران دي

۴۲- یو ملا هلته ولاړ دی هیبت ناکه
سپینه پګړه، اوږده ږیره، جامه پاکه

۴۳ ښنداري د بل جهان خلکو ته بنا ئي
دا استازی د قیامت تولو ته وائي

٤٤- دد نیا زحمت تري سپک دی لحبا به
که خبر شي د خپل قبر له عذا به

٤٥- ستا د پاش لمبه شوي دي اوروبنه
سور انګار سري سکروټې تنورونه

٤٦- لرهان بې ملکان دي حاکمان دي
تورماران پهره داران تحصیلداران دي

٤٧- لاړ دې نشته بله چاش هیڅ نه مومي
ګوره نن دی که سبا ته به ورادرومي

٤٨- دا دنیا فاني سرای دی ورته شاکره
داش وندون نن او سبا دی ځان فناکره

٤٩- داش وند هیڅ، عزت بې هیڅ مال او دولت هیڅ
زحمت هیڅ، محنت بې هیڅ، نیان او ذلت هیڅ

٥٠- وخت آخره زمانه قیامت نژدی دی
د محشر ډګیر دار ساعت نژدی دی

٥١- د نیا مال پا یښت نه لري هیڅ ناته
ګوره ونه کړې امید نن او سبا ته

٥٢- داخبرې په پیر و پیر وقرنو نو
خلک اوري چپ دزړونو په غوږونو

٥٣- پرون ناست وُ داکیسه بې اوریدله
نن هم ناست دی هم به ناست وي تل ترتله

٥٤- زه هم وایم دغه زور داستان ربښتیا دی
ځکه دغه کوم جهان چې د ملا دی

٥٥- دا دنیا چې د حاکم ده د سردار ده
د بادار ده، د سرکار ده، د فرماندار ده

٥٦- دا دنیا کنډو، کنډو آخر ورانیږي
بل جهان د بل انسان به تر پښو جوړیږي

## ازلي ګناهګار

٥٧- هلته دوري پاس په پوله بوڅوان ښکاري
کوټوالي ورسره په لاري روان ښکاري

٥٨- په و هلو، ټکولو، تېل و هلو
سینده! ستا ترڅنګ روان په لاره تللو

٥٩- دی پرون هم زغلیده نن هم زغلیږي
دی پرون و هل کیده، نن وهل کیږي

٦٠- ستا جهان ثابت جهان دی بې تغیره
بې انصافه، بې وجدانه، بې ضمیره

۶۱ - ګناهګار تل ګناهګار وي تر قیامته
دعذاب ملکه تل پرې مسلطــــه

۶۲ - کله اورم څیني خلک بیا دروغ وای
چې دنیا پر یو حال نه ده او نه پای

۶۳ - مظلومان له پر قاریږي انقلاب کړي
د ظالمو، مستبدو سره حساب کړي

۶۴ - دا قول دروغ دي دا خطاده قول هزان دي
ستا جهات بل شان جهان ثابت جهان دی

۶۵ - تل ثابت دي، تل ساکن دي پر یو حال دي
بې تغیره، بې تبدیله، بې زوال دي

# دخدا سیلاب

۶۶ - د پښون په شان دا اوس هم ستا پغاره
دهیواد کچنیان لوبیږي همه واره

۶۷ - په پستو بخلي شکو کړي دا ننګونه
د مرغو په شان وهي وزرخا ننګونه

۶۸ - یو وړه جنه سا نیولې ببر سرې
سور کمیس، څیرې ګریوان ستر ګې چغوي

٦٩ - خاندي خاندي په موره باندې پاسه
په ځان شنګې بادوي پر دواړه لاسه

۷۰ - جواب نه وائي چې هر څو ترې نه سوال کړم
خاندي، خاندي چې پوښتنه داحوال کړم

۷۱ - دا خندانه ده طوفان که سیلاب دی
لوی محشر دی، زلزله ده انقلاب دی

۷۲ - پاس آسمان کې موکل ملک حیران دی
هلته ناست دی پټ د ځان سر ګوښیان دی

۷۳ - ما خو دلته خندانه وه پیدا کړې
دا د کومه ده راغلې چارا وړې ؟؟

۷٤ اې وړې جینۍ ته څرنګ یې خندانه
په رښتیا چې ته ورځ یې ته نادانه

۷٥ - ولې ؟ خاندې اې دلبرې بس که بس که !
خدای ته ګوره دنړه سرې بس که بس که !

۷٦ - خبر نه یې ستا وطن دی د غم جاله
یو قهار حاکم همیش پرې ناست بدحاله

۷۷ - دا ستا ملک د غضب ملک دی پریشانه
ستا د ملک خاوند قاسندوکی دی بیشانه

٧٨ - ای نه ما دنره دریابه دا سیلاب دی
دا خندا نه ده طوفان دی انقلاب دی

٧٩ - نه لاهو شوم ستا چې شوې په ما تیرې
انساني د سیاست شوې له نه هیرې

٨٠ - دا خندا عجیبه راز دې تفسیر غواړي
دا خندا پریشان خوب دی تعبیر غواړي

........

## دریاب

٨١ - نه له خمه د پامیږ له هسک سوا ده
د پریانو د دیوانو له هیوا ده

٨٢ - داستانونه د مرګ شونډو سروانو دي
هم د نن ، هم د پرون د هرنما دي

٨٣ - نه لې ورمه تل تر تله په دا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

٨٤ - دا خندا خوب او خیال نه دی حقیقت دی
دا خندا ساده پیغام د طبیعت دی

٨٥ - دا چې تر نه ما بهیږي دوامرو یني
دې جهان کې ابدي شان قوام وینې

۸۶ ـ دغه خوب دې تعبير غواړي د زړه سره
دغه خيال دې افسانه ده سراسره

۸۷ ـ نه لږ وړمه تل ترتله په دالورې
سمندر کې ډوبومه هلته دورې

۸۸ ـ دا خندا زما خندا په ما خندا ده
مسخره ستا د خويونو په دنيا ده

۸۹ ـ دا خندا ده بس يوا ځې يوه خندا ده
د جهان او د شوندو ن هم دا معنیٰ ده

## لاروی

۹۰ ـ اى زما د زړه دريابه لړته وايه
ستا په غاړه يو انسان په وټ لږ ځايه

۹۱ ـ په دې سيمه کې ميشته له ډيره وخته
په ستن لوڅ په ګيله ورى تل بدبخته

۹۲ ـ په دې ورېج تشه ګيډه ناتوانه
ښخ ويده دې کړي خوبونه پريشانه

۹۳ ـ دا انسان خو شان انسان خو لږ راحت دی
دا خوبونه تعبير غواړي لوی زحمت دی

۹۴- ما ملکونه هیواد ونه ډیر لیدلي
هنګامې د انقلاب مې اوریدلي

۹۵- هلته دورې چې د نیا بیا رڼا کیږي
آ، چې لمر ځي سمندر کې پناکیږي

۹۶- هلته شور دی غلغلې دي کوم طوفان دی
یو جاکړ تر ې هیبت ناکه لاروان دي

۹۷- دا طوفان شي لوی لوی غرونه لړزولای
شي سیند ونه، دریا بونه وچولای

۹۸- هم داور په شان لمبې کوي سیزل کړي
هم ګرداب دی سنګته، سنګته ډوبول کړي

۹۹- لاروان دغه سیلاب دی پدې لوري
غرهار یې هلا اوس اوس ام له دوري

۱۰۰- دا انسان چې دلته پروت دی ستا پیغاره
خبر نه دی له سیلا به کور ویجاړه

۱۰۱- رحم ورحم ورته به غیرکړم چې بیدار شي
د عالم له تیټ او پاسه خبردار شي

۱۰۲- یا به دی آخر خبر شي له خپل ځانه
یا به ما هم ځان سره ورک کړي له جهانه

# درياب

۱۰۳- ويل كيږي كه ترخې ، ترخې خبرې
ياخبرې وي خوږې لكه شكرې

۱۰۴- خو بيا هم خوشې خبرې دي خبرې
افسانې خوشې قيصې دي او منترې

۱۰۵- انقلاب نه هم كيسه داستان جوړيږي
مخلوقات پدې كيسو باندې بدليږي

۱۰۶- كه د بل جهان ماڼن او لوړمان دي
روزل شوي په سنهادکې د انسان دي

۱۰۷- لاشعور له ترکېو راپورته کيږي
داستانو نه افسانې تربينه جوړيږي

۱۰۸- زه يې ساوړم دهسکو غرو له رمز آباده
د پريانو د ديوانو له هيوادده

۱۰۹- بيا يې وړمه تل ترتله په دالوري
سمندر کې ډوبومه هلته دوري

# جنتیان او دوزخیان

١١٠- دې هیوا د زور د وړانو نه وېر لیدلي
داستانو نه يې بیشمار اورېدلي

١١١- له لبنکی نه عجیبه خلک راغلي
پدې غاړه خپاره شوي پوره تللي

١١٢- دوی راوړل رسالتو نه درمندو نه
په بناخو بناخو شیندل دوی پیغامو نه

١١٣- په دړو، په سړو، باندو ودیږوکې
هم په غرو رغو، په کلو هدیږ وکې

١١٤- پیغامونه مفت وړیا ویشل کیدل تل
خو کند وان به هم د خلکو تشید ل تل

١١٥- د دې ستړو پیغامو ړکوته تللي
وېر چړکانو خپل سرونه دي بابللي

١١٦- وېر غوایانو خپل ځانونه قتلان کړي
وېر پسانو خپلې غوښې قربان کړي

١١٧- سپین ځادري اوږد ږیري ملایان و
دا عنت خیږتي او عنت پکې جنتیان وو

۱۱۸ هم پې مخې طالبان لکه غلمان وو
ډلې ډلې به په دوی پسې روان وو

۱۱۹ وعظ نصیحت امر معروف ؤ په کمبختو
گمراهان به سمیدل په سمو لختو

-۱۲۰ بیا به لوې لوې ډلې وې د چمنو
تا به وی لکه سیلونه د چمچمنو

-۱۲۱ په فصلونو درمندو به شو ورخوشې
توکول به یئې غنم، جوار، اوربشې

# دعذاب پر پیښتی

**********

-۱۲۲ یو وخت راغی ما پیدا لوی لوی پیران شول
دا اعجاز د کراماتو خاوندان شول

-۱۲۳ ور معلوم به یې پریرمزونه پټ پنهان وو
پیغامونه ور سره د بل جهان وو

-۱۲٤ په آسونو به سپاره وو پادشاهان وو
مریدان لښکر، لښکر پسې روان وو

-۱۲۵ د ذکرونو، تکبیرونو غږهار وو
د حلوا د پولاونو خوان تیار وو

۱۲۶- ساز سرود، مینه مستي لویه ګناه وه
هم حرام دوه خندا وه که نڅا وه،

۱۲۷- بیا به ځنې ځنې خلک ګمراهان شول
ځنې نور به لا بدتره کافران شول

۱۲۸- د کافرو د بې دینو مرګ روا شو
د ګمراهو کور به وران مال به تالا شو

۱۲۹- دا پیران، خدمتګاران لوی د محشر وو
د عذاب د ملایکو اشرګر وو

۱۳۰- ګمراهانو پدې شوند عذاب لیدلو
د عذاب د پرښتو بار سپکیدلو

# یو داستان "۱"

## "سمندر" د ملي غیرت کې

۱۳۱- ګوره ګوره ماخوا ته پدې لوري
کنډوالې کندرې ښکاري هلته دوري

۱۳۲- دغه ځای یوه قلا کور د بنګر و
یوه یې ښځه ډیر کوچنیان خاورې پسر و

---

(۱) والي: "سمندر" داسې یو افسانوي موجود دی چې په اور کې شوند کوي او
له خپلو ایرو بیا پورته کیږي.

١٣٣- ډوډۍ کښې، نه مکه کښې حاصل کم و

دوړو د وښو ګیدړي و رسره غم و

١٣٤- یو صفت به پیدا کړی دی انسان و

یو عادت به اخیستلی دې د هقان و

١٣٥- د لوی پیر مسلم حق سودا ئي نه کړه

دلنګر د شکراني پروا ئي نه کړه

١٣٦- پیر تر ئي نه وروسي دانې نه چرک چرګوړي

نه هګۍ ئي چي اوښې، نه ئي سیسوړي

١٣٧- پیر خپه و مریدان ورته په قار و

هلته ناست د کوم فرصت په انتظار و

١٣٨- داسي ئي خوارئي مشهور کړه هري خواته

چي ممسك دی، وهابي دی دا بد ذاته

١٣٩- مریدانو پیسي نوره کړه لانه یاته

چي خالي نه دی سړی له هر پساته

١٤٠- داسي خوار ئي مشهور کړو چي بدکار دی

لوی مفسد دی، هم سودخوره زناکار دی

١٤١- ترڅو تول د سیمي خلك شولو بیزاره

ګوابنیدل تول خوتکیدل ورته له قاره

١٤٢- بله ورځ، ورځ د جمعي میاشت د برات وه

د تمام وکړو وغونډه په جمات وه

١٤٣ چې لمونځ خلاص شو يو ناځاپه دربهار شو
دذکرونو، تکبيرونو غوږهار شو

-١٤٤ مريدانو لښکرو کړه ليو سره
لاهل تاؤ شول له قلانه نا ببره

-١٤٥ مريدان لکه پړانګان هدف ته ښکار ؤ
دذکرونو، تکبيرونو غرهار ؤ

-١٤٦ چې کتل خلکو په دې طرف کې لو ر ته
يو ناځاپه له قلا شو بې لمبې پورته

-١٤٧ لګېنيان، ښځې وو په دغه ورځ وتلي
چرته تللي، پناه شوي تښتيدلي

-١٤٨ خو بزګر غريب په دغه ورځ بيار ؤ
پروت په کټ کې ناتوانه هغه خوار ؤ

-١٤٩ هلته پروت ؤ بې دره مله بې درمانه
خوځيدې له ځايه نه شو ناتوانه

-١٥٠ څو له ځانه خبريده شيبې وې تيرې
سرې لمبې داور لمبې شوې ترې چاپيرې

-١٥١ دې لا پاځيده له کټه هک حيران شو
هلته ودريد خوار تاؤ ترې سور نيران شو

١٥٢ مخلوقات ته ؤ لا غلي تماشې ته
دې ولاړ ؤ هې کتل ته سرې لمبې ته

١٥٣- دلبې عجب رفتار و تلله تلله
ها بزګر ته په غرو، غرو ور تلله

١٥٤- شين ښروکی لې په سر دلوګي شين وُ
سره لمنه، سره خولګۍ، تندی لې سپين وُ

١٥٥- لمبه لاړه له خپره دده په پښو شوه
بيا پښې لې دده ښکل کړې په زارۍ شوه

١٥٦- بيا لمبه شوه په غرو ور پورته
شين پوړنی په ده خپور کړو دده لورته

١٥٧- ورته غاړه په غړې شوه دا مجنونه
ترې چاپير شوو دلبې سره مروندونه

١٥٨- بيا د شين لوګي دښته ښروکي لاندي
سرې لمبې ده ته خوله ورکړه وړاندي وړاندي

١٥٩- سره خولګۍ تو ده خولګۍ وه ګرمه ګرمه
پاکه پاکه ښه ځلانده نرمه نرمه

١٦٠ مخلوقاتو تماشه کړه سور نيران وُ
ده دخلکو تماشه کړه هک حيران وُ

١٦١- بيا شو ښکته دلبې په غيږ کې پريوت
د ناآشنا سوز و ګداز په درد و کيوت

١٦٢- داد مهرا و مينې تن ځې نا قراره
دلبې په غيږ کې وا و ښت خوځو واره

١٦٣- ترخو خاوري شوا يرې شو نو آرام شو
يو داستان د ژوند او مرګ هسې تمام شو

١٦٤- موريدانو ووی : توبې خلکو توبې کړئ
عبرت واخلئ ! د صلوات جنګې ناري کړئ

١٦٥- د سود خوړو پيرې تللو دا پايان شي
د دوږخ اور کې سټې پدې جهان شي

١٦٦- لاړ ويره ! پوه شوې څوك دغه بزګر و ؟
يو موجود افسانوي ؤ سمندر ؤ

١٦٧- اوركې ژوند كړې ، ژوندئ او ردی
سر كوټی سره ګلان باغ کې سمسور دی

١٦٨ معشوقه ئې سره لمبه وه كه له نازه
د فنا او د مرګي نه دی بې نيازه

١٦٩- د دې ښې زمکې بچي دي نافرمانه
له دې ښې زمكې راز يږي جاودانه

١٧٠- خاوره به كيږي ، ايرې كيږي څو څو ځله
له ايرو به پورته كيږي بيا هر كله

١٧١- بيا ګل كړي بيا ريبل كړي تل ترتله
ابدي سندره وائي خوږه خپله

# نوي پيا مبران

١٧٢- پر دې غاړو ننن پرون نور څوك رواوو
دين باديده ننګيالي ځلمي ځوانان وو

١٧٣- سنوړول لې سره ځلانده بيرغونه
ورسره وو شعارونه، پيغامونه

١٧٤- وې: مونږ خلك يو، خلك زمونږ دي اعتصاب كړو
مونږ راغلي دكار كړو انقلاب كړو

١٧٥- دا ځوانان ځلمي خپاره چې پدې خواشول
تمې تمې اميدونه را پيدا شول

١٧٦- خلكو ويلې: دوى باديده پوه ځوانان دي
پيغامونه يې هم ځوان د بل دوران دي

١٧٧- نور ښنتيا به شور ماشور كړه دځوانئ كري
بت خاني به سوځي رنګي پخوانئ كري

١٧٨- دې ځوانانو سره نوي نښان الفاظ وو
بې شماره شعارونه په بل راز وو

۱۷۹- خو بیا هم ښه ږي سندرې دوی وېلې
هم هغه ښه ږي خبرې لځ ویلې

۱۸۰- پر ښتیا چې دې ځلموظا هرځوانانو
څه پېښې تقلید کاوه دانسانانو

۱۸۱- دغه ځوان لکه طوطي غونديګوياو
منه سنايستر ګکين الفاظ دده بيانو

۱۸۲- الفاظ نوي خو معنیٰ هیڅ یکې نه وه
اشکال نوي محتوا هیڅ پرکې نه وه

۱۸۳- دوی وی : هرڅه نوي نوي اوس راوړو
پر ښو عنعنوځان نه خبروو مونږ

۱۸٤- ما وئیلي : ای بې فکره ! بې شعوره
ای دعقل و سرپېتوب دښمن تربوره

۱۸۵- پرښو کیسو چې نشي پوهېد لای
نو د ښو نو نوي تو پیر نشي کولای

۱۸٦- نو داځکه دطوطي پشان ګکیا یې
ښو بیان کړې نوي نوي ورته وایې

۱۸۷- نه خو وائې : دپیشرفت دښمن دهقان دی
دکارګرو انقلاب رښتیا عصیان دی

۱۸۸- دپېرون واعظ خو هم داشان نظر و
دا بزګرجاهل بزګر دین نه خطر و

۱۸۹- دې سرې ته پروني واعظ و ویلې:
ته ناپوهه ، ته امي يې ، ته جاهلې

۱۹۰- د امام بیان قبول کړه مسلمان شه
څه په پښتو ستړګو ما پسې روان شه

۱۹۱- ننی واعظ اوس وائي : ورک ایسته!
مرتجع ایدیالسته ، فیو دالسته!

۱۹۲- دوی هم وائي چې استاد هسې ویلي:
ما پخپله په کتاب کې دي لیدلي

۱۹۳- په واقع کې د اخوانانو بچیان وو
مقلد آخوندانو د کان حاکمانو د کانو

۱۹۴- مه یې کړه مرونخت چې د دوی لاس په خلکو برېږي
کله دوران نشته خپې شوې خیرې حال بدترشو

# سرتور ملنګ

دې ځوانانو ښاو خواکتلي نه وو ١٩٥-
هم هيچا ورته هرګز ويلي نه وو

چې د عقل نور حکيم سرتور ملنګ شته ١٩٦-
لاس وندې دی، لا د جهل سره جنګ شته

دا خوهغه لوی حکيم لوی قلندر دی ١٩٧-
چې ظالم لکه چنګيز ترې درپه در دی

د هټلر خونخوار منګلو کې وو پريوت ١٩٨-
ترې راخلاص شو خو په بله بلا کيوت

د ستالين توره بلا شوه مسلطه ١٩٩-
جيلخانو تورو ندانو ته شو ورښکته

هم د دې بلا له چنګه بيا راستون شو ٢٠٠-
آزادی پسې روان بيا دا مجنون شو

تسليم نشو استبداد زور او ستم ته ٢٠١
معشوقې پسې کوزيږي جهنم ته

۲۰۲- که شاهان، که سرداران شاهنشاهان شته
که واښه لوی هتلران شته ستالیناڼ شته

۲۰۳- د دې وار و یو دښمن دی یو غلیم دی
بس یواځې داد عقل لوی حکیم دی

۲۰۴- تل د عقل له قدرته په عذاب کې
شپې خوبونه پریشانه اضطراب کې

۲۰۵- دې ځوانانو خوشپې نه وي موندلې
چې نه ري خبرې وا وري بیا یو ځلې

۲۰۶- زور حکیم وی: په ځلمي که ځلمیتوب وي
د سري د ځیرې شانه سري توب وي

۲۰۷- په کوم ځای کې چې انسان انسانیت وي
سوز جذبې وي، آزادي وي حقیقت وي

۲۰۸- نو بیا هلته د تقلید احتیاج نه وي
د ځیرو پیښو کاسکیت، پټکی تاج نه وي

۲۰۹- په بل ځای کې یو قدرت شو لوړ پورته (۱)
هنګامې لې اوريد لې تاسره لورته

۲۱۰- دې قدرت آبادې هسکې ودانه کړې
ښځانې لې ښونکې رنګې ښوانه کړې

۲۱۱ داقدرت انقلابي عقل تنقید و،
دیو نوي شوندانه اساس تمهید و

(۱) اشارت مارکسیزم ته

٢١٢- په درانه خوب ویده یې کړه بیداره
داوهامو لیونې یې کړه په لاره

٢١٣- چې بیا راغی دلته راغی شو ذلیله
چخوالی نقل تقلید شو لجب دلیله

١١٤- نوی نوی بت خانې یې ساز وي اوس
نوي غټ بتان یې منځ کې دي و اوس

١٢٥- په بل ځای کې پلټنه وي پرسان وي
په فکري مسلماتو کې ایمان وي

٢١٦- پدې ځای کې تعصب شو عقیده شو
روح بیا یې نشوه بیرته بیا بیده شوه

١١٧- وای ناره اولیاء پرین دی نه زیارت ځلي
نوي ، نوي اولیاء دي اوس راغلي

١١٨- خاوندان دکراماتو داعجاز دي
کتابونه نازل شوي په بل راز دي

٢١٩- په اخلاص په پټو سترګو غاړه کیږي
سجدې وکړي ایمان راوړي پو پرین

٢٢٠- له زردشته ، له بودا ، له برهمنه
په بیړیو له پرونه لا ترنه

١٢١- دغیبي الهام خاوند دعوه دارانو
دبې خدایه ، دبې دینه سوالونو

۲۲۲- د بې شماره رسالت ستر خاوندانو
دهغو پیشوا یانو ، رهبرانو

۲۲۳- دا استاځی چې راځي ځي تل ترتله
دلته یوه سندره وائي ، یوه بدله

۲۲٤- په اخلاص په پتو سترګو غاړه کيږدي
ایمان راوړي سجدې وکړي تپوس پرېږدي

۲۲۵- داکیسې وې اوکیسې دي افسانې دي
ځنې هیرې ، ځنې یادې ترانې دي

زه بې له ځانه سره ورمه یدې لوري
۲۲٦- سمندر کې به وبومه هلته دوري

# د زړه دریاب

٢٢٧- لا ویره! زه خو ستا د زړه دریاب یم
ستا د زړه په شان ناارامه ناپایاب یم

٢٢٨- ما ته ګوره زه آزاد یم زه مختار یم
هر ځای ځم کله په لار کله بې لار یم

٢٢٩- پیدې خپل پراخ بستر کې پروت تللم
نن هم هر طرف ته رغړم زغلم زغلم

٢٣٠- کوټې خوټې، باندې کلي ړنګومه
پټي، زمکې، ویالې پولې ورانومه

٢٣١- دا انسان ما ته ناري کړي پرې افت دی
دا زما آزادي ده ته اسارت دی

٢٣٢- دې انسان خو هنګامې دي تېرې کړې
انسانې لې اوریدلي، هیرې کړي

٢٣٣- سیلابونه پرې راغلي نورې به تېر شي
بیا به راشي، بیا به لاړ شي بیا به هېر شي

٢٣٤- تر څو پوه په علت نشي د رنځونو
د ربښتیني انقلاب په لوی رمزونو

٢٣٥ دی به داشانتې بندي دخپل زندان وي
کندو تش، کچنیان وږي کور به وران وي

٢٣٦- بم دعقل په لاس ورکړه وره زده چل کړه
دتنقید شک او تردید اور ورته بل کړه

٢٣٧- تنفر او انزجار ورته بیان کړه
دغضب، قهر احساس ورته عیان کړه

٢٣٨- دا احساس قوي احساس بدلون راوړي
دا قدرت دنن پرون بت ماتوی شي

٢٣٩- ورته وایه: له خپل ځانه نفرت وکړه
له خپل ژونده منزجر شه همت وکړه

٢٤٠- دغضب په اور ایرې کړه رنګې رنګې
دقدرت او اقتدار بت خالي تنګې

٢٤١- نو به هله ته سړی شې ته انسان شې
آزادی دلوی منزل په لور روان شې

٢٤٢ لاړویه! نه خو ستا د زړه دریاب یم
ستا د زړه په شان ناآرامه ناپایاب یم

٢٤٣- آزاد نه غلم، آزاد رغوم خپل وطن کې
کله کوږ ځم کله سم دغرو لمن کې

٢٤٤- څو ددې بڼ کر بچي پوه په کار نشي
راپاڅي، لا ویښ نشي، په قرار نشي

۲٤۵- اوربل نکړي د دې دښتې په اغزوکې
ستې نه کړي لړمان، مارآن لمبوکې
۲٤٦- راوانخلې بيا کلنګ، بيل او نښکوره
قلبه نه کړي د دې ملک زمکه په زوره
۲٤۷- د ذهنو نوشړاګونه آباد نه کړي
په باغونو په ګلونو زړه ښاد نه کړي
۲٤۸- د آزاد، آزاد فکرونو نوو نوو
د تازه فکري تخمونو نوو نوو
۲٤۹- کښت و نه کړي له سهاره تر ماښامه
کر و نه کړي د ير کلونه شا مدامه
۲۵۰- داسړی به په قرنونو انسان نه شي
هيڅ آزاد به له خپل بند اونه ندانشي
۲۵۱- زه به تل لاځم راځم له هسک سوا ده
د پريانو د ديوانو له هيواده
۲۵۲- داستانونه به نه ما موج کې روان وي
هم د نن، هم د پرون دهر زمان وي
۲۵۳- زه به ځي وړمه تل تر تله په دا لورې
سمندرکې دو بومه هلته دورې

د ټولو ځوانو مجاهدو ځوانانو ته

# د ويړي افغاني مور

# (پيغام)

دافغانستان د بين المللي پيوستون دورځې په مناسبت

د مارچ (۲۱) کال ۱۹۸۲

د افغانستان په تولنه کې د شوروي قدرت په مقابل کې د جهاد او ملي قيام له کبله ځینې ژور بدلونونه راغلي دي. "د مور پیغام" پدې منظومه کې د دې بدلونونو د لاندې اهم اړخونه منعکس شویدي:

د جهاد او ملي آزادۍ جنګ د خاصو شرائطو په نظر کې:

۱- ديني عقيده نوره هم سپيڅلې کيږي او نهايت قوت مومي. مثلاً، د کلي ملا د خلکو حقیقي روحاني رهبر کيږي، يو داړه ـ مارغل خپل ځان او مال جهاد ته وقف کوي او پدې شان د خلکو په نزد قدر او منزلت پيدا کوي او کله چې د کلي يو زوړ سپين ږيری خپله د جهاد فريضه ادا کوي، نو د حضرت ابراهيم عليه السلام قرباني را په ياد وي.

۲- د عنعنوي زعامت پر ځای، د خلکو له منځه يو نوی ليډرشپ د راوتلو په حال کې ليدل کيږي، مثلاً يو بيکسه اهنګر د قبيلوي خان ځای نيسي، او د کلي يو خوار چوپان (غوبه) څخه ملي قهرمان جوړيږي.

۳- ملي شعور په خلکو کې راويښيږي، مثلاً د آزادۍ د جنګ په دوران کې، حتیٰ ديوې ساده، بې سواده ښځې عواطف ورو، ورو د فردي او محلي نيمګړي احساس له سوبې څخه جګيږي او د هغه څخه په ساده او طبعي توګه يو کلک او بشپړ ملي احساس جوړيږي. پدې منظومه کې

د خالص واقعبينانه «رياليستي» روش څخه کار اخيستل شوي دي. هيڅ کوم خيال پردازي، رومانتيکي احساساتي مبالغې تش رنګين الفاظ، وعظ، نصيحت، تلقين تبليغ او يا د ليکونکي خپل فردي احساس يا شخصي نظريات او تمايلات پرکې نه دي ځای شوي، بلکه فقط دي کلي ديوې ساده او بيسواده پښتنې کونډې ميرمنې له خولې څخه هغه څه بيان شوي دي چې دافغانستان په او سنۍ بحراني ټولنه کې ځوواره هر هرځای پېښ شوي او اوس هم پېښيږي. او دا ځکه چې د جهاد په معمولي او عادي پېښو کې د ملي آزادۍ جنګ په روزمره کوچنيو او ساده واقعيتونو کې داسې لوی او ژور پيغام پروت دی چې د خپل بيان د پاره د کوم بلاغت او فصاحت قوت ته، کوم ايډولوژيکي تعبير او تفسير ته، او کوم انقلابي تش بيان او لفاظۍ ته ضرورت نه لري.

د جهاد د ساده واقعيتونو ساده بيان پخپله انقلابي بيان دی.

# يو پښتني مورچپل مجاهد ځوي ته دا پيغام

## د جهاد سنګر ته ليږلی دی

۱- ګرانه ځويه! رستم خانه! مور دې ځار شه!
سنه دې چار شه! دشت صحرا در ته ګلزار شه!

۲- زه دې پر ښينو دم يو ځای اوس چې ځوان شوې
د جهاد سنګر ته لاړلې روان شوې

۳- د طالع ستوری دې غوړېږه ځلانده
مل دې خدای شه چې دنيايئ په فرمان ده

## د آدم خان مرګ

۴- ستا یاد پېږي نه مانه ده ډېره تېره
خوږ مانه به هيڅکله نه شي هېره

۵- ډېر ورکوټې، خبر نه وې له جهان نه
په خاپوړو وې قدم قدم روان نه

۶- څه موده وه پلار دې تللی په سفر و
زه او ته په کوږکې ناست حال موابتر و

٧- زه اوته یواځې ناست وو په دې شلـه
ستا د پلار د لاس تګ لاس مې خاړ لـه

٨- تړوړوکې وې د لوبو سره دې سرو ،
هم خاپوړې دې کولې ما نیکرو

٩- چې ناڅاپه په درشل باندې نسکور شوې
په ژړا په واویلا په شور ماشور شوې

١٠- سږه مې یاد شي تا ژړلي ما نیکرو
ستا په خاورو لوغیدلی سپېره سرو

١١- ماله پورته کړې په غیږ کې زنګولې
په خبرو په خندا مې چپولې ،

١٢- چې ناڅاپه یو چاغږ وکړه له پورې
"ځنازه کلي ته راغله خلکو ګورې"

١٣- تول ورو وتو بهرته زیړې لمرو ،
تا ژړلې نه ما غیږ کې ما زیګرو ،

١٤- ځنازه کلي ته ورو ورو ورسوانه
زړه مې توپ کړو په سینه کې ناګهانه

١٥- ځنازه نه وه چې راغله لوی کړنګ و
په کټ پروت یو شاځلمی په وینو رنګ و

١٦- چاوې: "دا خو آدم خان بېرته راغلی!
ځوان میړه د درخانۍ دی چاوشلی" !

۱۷- دا ستا پلار چې لې بیا غوره بیلتون کړو
د مرګي دا کوله لاړې بیرته ستون کړو

# ډروند قصّه

۱۸- له واده نه ما تیر وو څو کلونه
چې اختر راغی په ما سره بیلتون نه

۱۹- سبا مې یاد شي اختر راغی مونږ خندلی
ستا د پلار جامې ما پاکې وې وینځلی

۲۰- ما هم خپل کمیس رنګ کړی په رنګ ریز وُ
سنبال کړی مې خپل ځان مبنه په مکین وُ

۲۱- اختر راغی خوشالي وې خندا کا لې
نجونه سیند غاړې میلې ته شوې روانې

۲۲- دا اختر ما د ش وند د سیند په غاړو
بیا رانغی، یو وار راغی بیرته لاړو

۲۳- دا اختر په سبا پلار دې په سفر لاړ
په ناشنا بیګانه لارو د خطر لاړ

۲٤- په ملکو نو یو ځای بل ځای نه غلیدلو
غریبي خوارې لې کړه له ګرځیدلو

۲۵- چې يې ښاره په پردي ملک کې تنګ پرېشان شو
نو راستون شو خپل وطن ته رهی روان شو

۲۶- په ښاکرې څه سوغات مال او کالي وو
څه پيسې لږې په جيب کې لاس خالي وو

۲۷- داړه مار لوی جلاد خان ډاکو په لار کې
چرته پټ و غلی ناست و ښارته په ښار کې

۲۸- ستا ځلمی پلار يې شهيد کړو ناګهانه
مال سوغات يوړ جلاد ظالم بېيمانه

# کرانه ځویه!

۲۹- دکوندنونو شروندونو وینګرانو
تربوړان سرپي خواره ورني لیوانو

۳۰- خدای ترې نه همیش ساتلم په امان کې
ویرې سختې مې ګاللې دی جهان کې

۳۱- تانه ناسته وم چې تا به خدای ته لوی کړي
جانشین به دخپل پلار شا ځلمی زوی کړي

۳۲- توبه نه ده شم آخر خلاصه له تهمته
له زحمته، د لیوانو له آفته!

۳۳- بیا چې ته کله لوی شوی دا دې حال وُ
ستا سره یوه سودا یو فکر خیال وُ،

۳۴- تا به ویلې: "جلادخان نه ماغلیم دی
دخپل پلار خون به کړم دامې تصمیم دی"

۳۵- جلادخان ته خو دا تول او لس په قار وُ
چې خونکارو داره مار تل په فرار وُ

۳۶- چې را لوی شوی ته کټ مټ د پلار پشان شوې
آراسته د ننګ شا ځلمی بنا یسته ځوان شوې

۳۷- ښکلو ښځو نو زړونه تا باندې بایلل تل
ستا په لوري د ښو لاندې کښتل تل

۳۸- نر ځلمي وې شا ځلمي وې حیا ناکه
غیرتي وې ایماندار له ګناه پاکه

۳۹- د سپین ږیرو مشرانو کړو عزت تا
دیارانو سره اخلاص او محبت تا

٤۰- خپله مور دې هم سا تله تل خوشاله
په خبرو، په خندا، دزړه په خواله

## ناآشنا سیلاب

## ګرانه ځویه !

٤۱- ستا په یاد شي چې یوه ورځ بیا مازیګر وُ
دوا ړه ناست وُ په کاله کې نرې لمر وُ

٤۲- چې په کلي کې غا په شور ما شور شو
کوم نا آشنا جګړه پدې سیمه راخپور شو

٤۳- تر ولاړه شولې بیا دې توپ کړو په یو ځله
په درشل کې دې پښه بیا و نښتله ځه

٤٤- بیا ننوځي ږچي په نمکه راګذار شي
په ژړا بیا په درشل باندې په قار شي

٤٥- ما تهٔ ستا د کوڅي توب ورځ را په یاد شوه
چي د ښوند دیوه مي مړه شوله برباد شوه

٤٦- ته ور کوڅې نه ما خواته لو بیدلې
یو قدم نیم ها خوا دې خوا نو لیدلې

٤٧- مازیګرو په درشل باندې نسکور شوې
په ژړا په واویلا په شور ما شور شوې

٤٨- پدې سیمه بیا راغلی کوم محشر و
نا معلومه هنګامه وه شور او شر و

٤٩- یو ځل بیا کوم مصیبت په کلي ګډ و
څه بلا کوم تور آفت په کلي ګډ و

٥٠- ته روان شوې نو هم تا پسې روانه
زړه مې بیا سینه کې توپ کړو ناګهانه

٥١- زه او ته کلي ته لاړو مازیګر و
شور او شر و راننوتی کوم لوی خطر و

٥٢- خلکو ویلې: "د کفار و لښکر راغی
روسان راغلل، لوی فساد راغی شر راغی"

٥٣- د توپونو د ټانکونو غر هار هم
مونږ له دوري او ریدلو په بار بار هم

٥٤- داجاکړ سترګ رو ان ؤ هیبت نا که
نا آشنا سیلاب بې باکه غضبنا که

٥٥- مازیګر ؤ چې راستون شوې بیرته کورته
دخپل پلار لنډې ټوپک دې کړو را پورته

٥٦- تاوی: "موری خدای دې مل شه خدای په امان او س
کفارو غلل زه جهاد ته شوم روان اوس

# دکلي ژوند

## ګرانه خویه!

٥٧- ته خو دورې کوم سنګر کې دجهاد ناست
دخوانانو دیارانو سره زړه سباد ناست

٥٨- زه دې پس پسې بنو دم یوا ځې په تور تم کې
د دوهم بیلتون په غم په لوی ماتم کې

٥٩- څه موده وم ستا په غم کې دو به ناسته
نه مې خوب ، نه مې خوراک ؤ نه مې ملا سته

٦٠- خو دا اوس اوس ټول غمونه را نه هیر دي
دکاونډ سنځې همیش را نه چاپیر دي

٦١- هره شپه مونږه د کلي سنځې نجونه
ډوډۍ ګانې پخوو ډک، ډک شکرونه

٦٢- بيا په خوږ د سهار لږ پټ پټ وږمونږ
په سنګرکې لږ ز لمونځ رسوو مونږ

٦٣- چې د لمر ستر ګه راوخيژي سهار کې
له بمونو چرته پټې شو په غار کې

٦٤- د استوګنې وېرې سمڅې دي په غرو کې
ښايسته رنګې چينې ښته په درو کې

٦٥- کله چپه چپ بيايې هر څه قلار شي
بيا ناڅا په د توپونو غرهار شي

٦٦- بخو نه کله وارخطا شي په ژړا شي
بيا په جنګ آواز خندا کړي بې پروا شي

٦٧- کله چپ د چا په ياد زلفې پرېشانې
بيا د عشق سندرې وايې د هستانې

# جلادخان ډاکو

## ګرانه څوېه!

۶۸- زړه مې ډک دی قیصې ډېرې دي بیشانه
هرڅه بل شان، دنیا بل شان ده سوانه

۶۹- جلادخان ډاکو اوس هغه بدکاره دی
د پښتوا په شانې اوس داره ماره دی

۷۰- خدای په نیغه لاره سم کړی مجاهد دی
خونړیه دښمن د هرکافر ملحد دی

۷۱- په لمړي صف کې ولاړ دی د جهاد ننن
ایمانداره، پرهیزګاره، غل جلاد ننن

۷۲- ډېره وسان جلاد وشلي په اخلاص دي
سنې وسلې لې ترسره اوړي پخپل لاس دي

۷۳- خلك وائي د جلاد ګناه بخښ باکې
د دښمن وینو مینځلی صافې پاکې

۷۴- بله ورځ د خپلې ډلې په منځ منه
زموږ بن کوږ تد په ناری راغی دننه

۷۵- ماته وده یه، لاس پښې یې رېږدلې
دما شوم په شان یې اوښکې بهېدلې

۷۶- ویلې: "خورې زه د خدای لوی ګناهګار یم
زه جاني یم، زه قاتل یم، زه خونکار یم"

۷۷- "که شهید شوم په جهاد کې نو خبر یم
خو اب کو به د خدای پاک په محشر یم"

۷۸- "شهادت که مې نصیب نه شو ژوندی وم
دا وعده مې ده له خدای سره که سری وم"

۷۹- "چې بچپله به ورځه رستم خان ته
سر به بند مې ورکړم ده په محکې ټول جهان ته"

۸۰- چې خپل ننګ غیرت په ځای کاندې راضي شي
د خپل پلار خون له انتقام اخلي تری غازي شي

# "شینا" غوبه

۸۱- آیا نه مونږ د چم غوبه په نوم "شینا" اوس
لرګینی غوښې نکړې د هیچا اوس

۸۲- په شینا پسې نن کړځي ما شینداري
د یر ځوانان ور ته ولاړ قطار قطاري

۸۳- اوس شینا ورته څوک نه وائي کابل شادي
د شینا هوا بدله، قوماندان دی

۸۴- فرمانونه لې چلیږي په هر لوري
آوازه لې د میراني خپره دوري

۸۵- د ځوانانو سره راځي زمونږه کورته
شپه کړې تېره بیا ورځي د سنګرلورته

۸۶- بیا په شپه ورځو پراته دوي په سنګروي
په څنګلو په غرو رغو بیدیا بهروي

# خان زرين خان

٨٧ ددې کلي مشر خان چې خان زرين و
مال جائيدا د خدای ورکړې آسوئې زرين و

-٨٨ هغه لاهو لو برباد شولو رسوا شو
کور ئې خلکو په اور وسو مال تالا شو

-٨٩ قلاه ئکه هر څه تول ستي په اور شول
لوړ برجونه هسکه غاړه را نسکور شول

-٩٠ خلک وائي: زرين خان د ښمن تر ناست دی
د روسانو په فرمان په منډه زغاست دی

-٩١ څه وريږونه پرچميان زامن خلقيان دي
د روسانو وفاداره غلامان دي

# نوروز آهنگر

-٩٢ ستا به دا غلط گمان شي زویه گرانه
چې د کلي د عزت حجره شوه ورانه

٩٣- پيدا کړو خداى يو بل شان د حرمت ځاۓ
د نوروز اهنګر حجره اوس د عزت ځاۓ

٩٤- جوړوي مات نه پکوښ نوروزخان اوس
کار توسونه دکوي په هرهر شان اوس

٩٥- دخداى پاك د ده په مال ښه نظر پام دى
چې و لاړه تل مجاهد ته لاس په نام دى

٩٦- موږ ټول ورسره ولاړ يو تر خپل وسه
نور دکلي غريب نه دي نه لږ کسه

٩٧- غوړي، غوړي ړوړې ګالي ورکوي تل
چاق پښان غټ غټ غوايان حلالوي تل

## تورطالب

٩٨- "تورطالب" آ، پنج پيرى ملا لانور هم
مست مست ګرځي په دې سيمه په ګاونډ هم

٩٩- سرخريلى، اوږده ږيره لږ پرې ايښې
غټه پګه لږ هم پاس په کوپړې ايښې

١٠٠- د کوم بل ملك ږيرور غټ طالبان تل
ړلې، ړلي وې په ده پسې روان تل

۱۰۱- ځې راځي والۍ جهاد ته يو را غلي
پته نشته کړي کار ونه غلي غلي

۱۰۲- کله يو وو هې هلته کله د لته
کله يو ته کافر والې کله بل ته

.......

# محمد صادق ملا

۱۰۳- نارينه ملا د بر کلي استاذ دی
مولوی صادق سنتيا صادق سرباز دی

۱۰۴- خوږ آواز چې د آذان پورته سهار کړي
په درو په سر د سوکې ژوند بيدار کړي

۱۰۵- کاني بوتي الله والې اکبر والې
د خدای پاک ثناغو والې کمر والې

۱۰۶- د جهاد په لار ېي خلك سموی تل
د ايمان د عقيدت وعظ کوي تل

۱۰۷- په سنګر کې د غازيانو امامت کړي
د جهاد په لمړي صف کې حرکت کړي

# سورګل معلّم

۱۰۸- ستاخو یاد شي د سورګل معلم ګفتار سره
چې به يې ستا سره کولو دارمدار سره

۱۰۹- ببر سر، زوره ند بريتونه، کږه خوله
هم کږه وږه وينا به يې کوله

۱۱۰- ده ويل: جهان به وران شي دی هم وران شو
دی په خپله سم په ورانه لار روان شو

۱۱۱- چې کفار په وطن راغلل کلي رنګ شول
ډير ځوانان پاک شهيدان په وينو رنګ شول

۱۱۲- اولسونه مهاجر شو نور ملکو کې
شو بيشماره نور وراسته په زندانو کې

۱۱۳- سورګل بيا خلکو ته کړلو دا بيان هم
چې: "روسان زمونږه ورونه دوستان هم"

۱۱۴- خلك ټول ورته په قار وو هك حيران وو
په سورګل ناست ليونۍ شالي پيريان وو

۱۱۵- بيا يې پټ پټ شروع کړې عجب کار ؤ
پټ خطونه يې ليکل دا يې روزګار ؤ

۱۱۶- دغازیانو حال احوال به یې غوندولو
بیارو سانو ته به یې پټ پټ استولو

۱۱۷- دولت خان سو دخوربه داخطو وړپل
په خپل لاس به یې دښمن ته ورکول تل

۱۱۸- بنې پلیسې ډیرې پیدا کړې پدې لاره
مال دولت، ددولت زیات شو څو واره

۱۱۹- په آخر کې دولت خان او سوړکل دواړه
په شرمونو شرمیدلي بنده غاړه

۱۲۰- یوه شپه له کلي لاړل په بې لاره
جلد په تیښته یې ځان ورسو وته ښار

# ابراهیم ملک

١٢١- د سوړکل سپین ږیري پلار په کټ کې پروت
نور له کوره نه راوت په شرم کیوت

١٢٢- ابراهیم ملک د عمر سل شو کاله
وو تیر شوی په عزت بې له جنجاله

١٢٣- اوس په کور کې پټ له قاړه غومبیدلو
غلی غلی به د ځان سره ژړیدلو

١٢٤- سوړکل واخیست د روسانو سره منصب لوړه
بیا د بر ولس حاکم شو بې سبب لوړ

١٢٥- ډیر غازیان یې شهیدان کړل تېښته اوس پاده
ډیر یې نور په بند زندان کړل بخپل لاس ده

١٢٦- ولس هلته شو راپورته تري چاپیر شو
دشمنان ډیر زیات مردار شول سوړکل گیر شو

١٢٧- سوړکل لاس ترلی راوستل شو کور ته
شرمیدلی سر یې ټیټ د خلکو ور ته

١٢٨- د سوړکل سپین ږیري پلار چې خبر شو
نور پاڅیده له کوره را بهر شو

۱۲۹- زوړ توپک یې په اوږه کړ و شمله نیغه
اوږده توره یې ترملا کړه تېره تېغه

۱۳۰- ویلې: "خلکو! سم غوږونه راته کېږدئ
داسې زما خپل ځوی دی ما ته یې پرېږدئ"

۱۳۱- ابراهیم خپل ځوی روان کړ و نازولی
په یوې تیږې باندې یې کښېنا و لاس تړلی

۱۳۲- بیا یو څو شېبې خپل ځوی ته چپ کتلی
د سورګل بریتونه زوړند ژبه غلې

۱۳۳- لوی واړه ځوانان زاړه وو ولاړ وتلي
هره خوا چوپه چپیا یې خپره په کلي

۱۳۴- ابراهیم سپین ږیري وویل: خپل ځوی ته
"شه قبلې ته! زاري وکړه پاک رب لوی ته

۱۳۵- "ځویه وایه! الله یو دی لایزاله"
سورګل چپ و، بې پروا ناست و بې خیاله

۱۳۶- "ځویه وایه! مرګ سوا دی د کافرو"
سورګل چپ و، سر یې زوړند په ټټر و

۱۳۷- ځویه! ولې د کافر دښمن نوکر شوې؟
بې ایمانه، بې غیرته، بې پدر شوې؟

۱۳۸- سورګل چوپ و ګریوان څیرې سر یې خوځولی
ولس ګېر چاپېر ولاړ و ډلې ډلې

۱۳۹- ابراهیم لا سوند پو رته کړل آسمان ته
عرض یې وکړ ستړ پادشاه د کُل جهان ته

۱۴۰- ویلې: "خدایه! زه خو ستا شکر گذار یم
ستا د رحم او کرم په انتظار یم"

۱۴۱- "زه بوډا یمه ولاړ د کور په غاړه
ستا جهاد ته د تنګ نه وم حال ویجاړه

۱۴۲- تا پخپل فضل جهاد را وستو کور ته
د رحمت نظر دې وکړو زما لور ته"

۱۴۳- اوس په متو کې، په زړه کې توان همت را
په خپل امر سبه قوت د اطاعت را"

۱۴۴- ابراهیم بیا توره کش کړه ابداره
سور کل څوی خپل یې حلال کړو په قلاره

# د زړه خبرې

## ګرانه ځویه!

۱٤۵- که د خپل زړګي احوال درته بیان کړم
ته مې شپه او ورځ یادیږې تل خپګان کړم

۱٤٦- کله کله شیطان پټ پټ راته وائي
د دنیا ټول راحتونه راته ستائي

۱٤۷- وائي: "ځلمي ځوانان پدې سیمه ډیر تیا دي
ولسونه د جهاد پہ لور را مات دي"

۱٤۸- د یوې خوارې کونډې ځوی ولې روان شي
مور تنها پرېږدي په فکر د خپل ځان شي

۱٤۹- نارینتوب خو داسې نه وي زما جانه
پخپل کور کې به سم ناست وو په مړانه

۱۵۰- که رښتیا وایم زړه مې بل شان ته بیان کړي
په بل راز خبرې هر دم هر زمان کړي

۱۵۱- ډیر ځلمي مجاهد ولې ځي را ځینه
سنا تسل ورباندې کړمه ستا په مینه

۱۵۲- ځیږې ځیرې جامې زه ور ته ګنړمه
د جنګو نو خاورې دوړې توې ځنړمه

۱۵۳ دلته راشې کومه شپه نیمه کړې تیره
مانه کښیني له نغري نه ګیږ چا پیره

۱۵٤ ټول ویښ ناست وې پیل قصې د جنګ جګړو کړې
په خوږ و خوږ و خبرو مې زړه ښاد کړې

۱۵۵- زه په نور دزاری بیده دا ماشومان کړم
د برستنو لاندې ګرم پټ پنهان کړم

۱۵٦- بیا نو کښینم نغري ته اور تازه کړم
وروړه غوړې کوره که وه په اندازه کړم

۱۵۷- غوړ ټیکلې خوړ پا خه کړم ترسهاره
کړم ځلموته د سفر توښه تیاره

۱۵۸- دوی په تور چرګ بانګ راپاځیږي رخصت شي
بیا نو راشي بیا په کور میله صحبت شي

۱۵۹- ماته ستا په ستان ښکاریږي ځوانان ټول
خپل زامن زما د غیږ ماشومان ټول

۱٦۰- زړه مې والیي: ځوی ته تاکړی کونه تون دی
تاز غملی سخت ژوندون ظالم بیلتون دی

۱٦۱- زلوی شوی پس له ډیره انتظاره
تاره وزلی هم ددې ورځې د پاره

١٦٢- پر ملك ناست اوس سو ركافر دي اوس جهاد دي
د ناموس د غيرت جنګ پدې هيواد دى

١٦٣- نارينه پيدا د دا سې جنګ د پاره
مور ځوانان روزي د قام د ننګ د پاره

١٦٤- دښمنان چې برباد نه کړي نو به څه کړي ؟
خپل وطن چې آزاد نه کړي نو به څه کړي ؟



# د جهاد

## سندره

ګرانه ځویه !

۱۶۵- ته سپارلی ما په خدای یې موږ دې زارشه
مال د خدای یې هم هغه دې مدد کار شه

۱۶۶- ستا نه زار شم شهادت که نصیب ستا وي
پدې کار کې به د رب خپله رضا وي

۱۶۷- که له ملک نه دې بهر کفر الحاد کړو
که غازي شولې وطن د خپل آزاد کړو

۱۶۸- نو، یوه ورځ به د غازیانو لښکر راشي
ته به راشې بیا به نوی اختر راشي

۱۶۹ دواړه لاس به په نکریزو بیا رنګین کړم
شینکی خال به بیا تازه پاس په جبین کړم

۱۷۰- بیا به زه یمه سر لوړې پخپل کور کې
هم خوشاله خوښ وندی یم هم په کور کې

۱۷۱- په ګاونډ چم به ګډ کې به خندانه
مسته ګرځم په زړه همیشه ځوانه

۱۷۲- بیا به ګل رحم پدې دښت په دمن کې
هسکه غاړه په آزاد آباد وطن کې

ooo

ګل نه څوک یم؟ مور دې زارشه

(دُرخانۍ)

# توره بلا

## یا

ناهید - تیغي ته دیو عاشق له خوا د

## محبت پیغام

# توره بلا

ګردې ګردې سترګې تورې　　　　ګورې ګورې په هر لورې
زرزري وزرخا نګونه　　　　رنګارنګه آوازونه
دا ناهيد نر ده تيغې ده
عجيبه شان نه مرغۍ ده
دا مرغۍ نر ده آفت دی　　　　ورانکارې ته تړلې نيّت دی
تبه کاره بدل آزاره　　　　دکوچنو مرغو خونخواره
په وړه وړه خندا ئې مه غولېږئ
په مکرې ژړا ئې مه غولېږئ
دا تيغې لويه بلا ده

لوټ تاراج به کړي خوبن زړونه آرمانونه
مونږ به نه يو
اميد ونه، آرزو ګانې، کار وانونه
مونږ به نه يو
دا به شمع وي بلېږي، پتنګان به پرې سوزېږي
په قدم، قدم به فرش ورته ګلونه

موښ به نه یو،
په خندا به وران جهان کړي، عاشقان به خپل قتلان کړي
وران و یجاړ به کړي آباد آباد کورونه
موږ به نه یو،
په ناز و نو په نخروبې مه غولېږه!
په ز کېږو و په او سیلوبې مه غولېږه!
دا تیغ بده بلا ده

—•••—

دا شیشکه ده، بلا ده!
دا د چا نړا پیدا ده؟
دا د کوم خواند ما غلې؟
د چا کورته غلې، غلې؟
او ربه کیږي دې د نیا ته
دا ولاړه تماشا ته
په مکېز او په ادا بې مه غولېږه
په شکوه په واو یلا بې مه زوربږه
دا تیغ توره بلا ده
ای تیغه! ته څه آفت، ته څه بلا یې!
د دنیا د درد او غمه بې پروا یې
د پردیس پېدې و یجاړ ملک کې پیدا یې

دهجرت په کنډوالو کې په نغا ئې ؟

—...—

وايه څوک يې ؟ نازنينې دل آرامې !
څه پيغام دې پټ راوړې گل اندامې ؟
ته ورو مه شيبه شيبه لې نرمه نرمه
ښکاې لورغنچه لې گرمه گرمه
نازولې معشوقه دهسکو غرونو ؟
د باغونو ښتو دشتو نو چمنو نو ؟
ته سبائې يا سبا باد سبائې
را الوتې په ميرو ښترو بيديائې
دوباره دې راژوندۍ کړې آرزوگانې
افسونگرې ، معجزه دمسيحائې
ښکاې ستړې دې هيواد دآبادۍ دی
خندا گې دې پيغام د آزادۍ دی
ای تيغې ته څه بلائې ؟

—...—

پېښور (۲۲) سپتمبر ۱۹۸۵ ع
سيد بهاؤ الدين "مجروح"
(ناهيدته)

# د بنګړو شرنګ

هر مازيګر يم ګودر ته تللې
ماښام غمو کې د عشق خپلې
په شپو شپو يم پټ پټ ورغلې
پاس په پالنګ ئې نيغ ورختلې،

تل او ريدلي ماښام سهار ما
د بنګړو شرنګ، شرنګ د خپل لالا ر ما
ورځ له بيلتونه په نره زړو روم
شپې تيرې کړې په انتظار ما

کټ ته ورغلې په بيره دا ريم
غين کې پټ شوی د خپل ننګا ريم
تورتم نياره کې نيمګړی عشق ؤ
بيائې شړلې په خر سها ريم

## د زلفو زنځير

ساقي راپاڅه تنده مې اوردی
راپاڅه ! ناڅه سر کې بل شور دی
زنځير د زلفو پر ما راخپور دی
د خيال زندان تور، زړه مې تر تور دی

## ساقي

ننګ او ناموس دی بخونو ساتلی
پیغور، پیغوریم تل شرمولی
پاس په مورچو کې زه ور ختلی
له شرمه تللی مرګ ته ور غلی

---

ساقي راپاڅه تنده مې زیاته
په دریابونو نه شوله ماته
د آسمانونو پیالې پیالې کړه
ډکې لبریزې بیارا کړه ماته

## ځوږې ستورې

په توره شپه کې شمعه رڼا کا
ماوې: ماتم کا، ماوې ژړا کا
که پتنګان دي ستي ایږې شول
ماوې: پاکان دي عشق او وفا کا

خوږې سندرې، د بلبلانو
خندا د زرکو، شور د طوطیانو
زما نظر کې، وې ژړاګانې
غم او ماتم وُ د عاشقانو

## شینکي خالونه

شینکي خالونه د مه جبینې
تنکي پېزوان شو هار لونګینې
ولول د زلفو تور سناماره هم
ما تل ستایلي د زړه له مینې

——...——

په بهارونو، په خزانونو
باغ او بوستان کې په غرورغونو
لیدلي مادي دغم رنګونه
زېږ رنګونه، د سرو ګلونو

پوهاند مجروح

**یادونه:** د شهید داکتر سید بهاؤالدین (مجروح) ځینې شعرونه چې نه مونږ لاس ته ندي راغلي د راتلو په صورت کې به ئې بیا چاپ کړو. (إنشاء الله تعالی)

ګرانو لوستونکو !

د پوهاند ډاکټر سید بهاؤ الدین "مجروح" په شهادت باندې لکه څرنګه چې د نوموړي کورنۍ په درد او غم کې ډوبه شوه او د دوی لپاره یوه ضایعه ده ، په همدې ډول د افغاني ټولنې شاعرانو ، لیکوالو او ادب پوهانو لپاره هم یوه ستره فاجعه ګڼل کیږي .

د ډاکټر "مجروح" د شهادت څخه وروسته په ملي او بین المللي سطحه د یرو سیاست پوهانو، ادیبانو شاعرانو، لیکوالو، مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو خپل تأثرات څرګند کړل او زموږ سره یې غم شریکي وکړه .

د افغان د اطلاعاتو مرکز په هڅه وکړي چې په راتلونکي کې دغه ټولې لیکنې راغونډې کړي ، خو په اوس وخت کې یوازې هغه لیکنې او " مرثیه " اشعار تاسې ته وړاندې کوو چې د افغاني شاعرانو او لیکوالو له خوا ویل شوي دي او زموږ لاس ته رارسیدلي دي .

د افغان اطلاعاتي مرکز

د ادارې لخوا

# دوهم فصل

"حمزه" شنواری

# بهاؤالدین "مجروح"

# شهید!

که هر څو پخپله لاړ و په راحت شو
خو په زړونو د دوستانو يې قيامت شو

ښه ثابت يې دا شرف د سيادت شو
چې فايز په مرتبه د شهادت شو

هغه بدر چې د شمسه مقتبس وه
چې کسوف پرې د مرګي راغلو ظلمت شو

له "جمال افغان" نه پس په پښتونخوا کې
هم دا يو بهاؤالدين و چې رخصت شو

د پښتون د بدبختۍ نه به څه وايم
چې غروب يې دا کوکب د سعادت شو

په تحقيق موت العالِم موت العالَم دی
پرې شاهد دغه رښتينې روايت شو

دا يوازې د "مجروح" د بابا نه دی
دا يې غم دی چې په برخه د ملت شو

حمزه! د اخلاص لکه په مشکل شي
خوکه فضل د پاك رب پدې ملت شو

---

## د سید بهاؤالدین مجروح په شهادت

### همیش خلیل

په خزان وهلې ځانګه یو بلبله
زما کور کې په سروونو ژړېدله
په سرو سترګو د حسرت کې نوحه کړي
خدای خبر دی چې د چا سانده ویله؟
وی ئې: ای د افغانۍ ډُرخو آدمه!
د آرزو باز دره ستا و سوزیدله
ما وی: څه وائې بلبلې هیڅ پوه نه شوم
داد چا په فرقت ژاړې بې بدله؟
وی ئې: داد غم خبر مې دی راوړی
خوله مې لکه شره له خاوروڅو ځله
که څه وند وایم سوزم لمبه کیږم
د هجران لمبې مې خیژي له ګوګله
چې ئې زه درته وایم د غم په ژبه
د زخمونو ګلدسته لکه منګوله

هغه ګل د ښه مالي لاسونو ومروړ
د وطن دړا بيا ګلي له کا ګُله
په آرزو د خپل چمن د ښيرازۍ ؤ
نيم بسمل هسې مجروح ؤ له ازله
د خپل سر په صدقه ئې کړه روښانه
د افغان د تقدس ړيوه شوه بلـه
د وطن د آزادۍ په استقلال ئې
د ګلونو په ځای وينه وشيندله
هغه رڼ مشال بې وخته تيارو ونغړد
چې تياره د غلامۍ به ئې غندله
د شرابو په ځای ستا هغه همفکره
سره پياله د شهادت من ونوشله
په ګلشن د پسرلي په اميدونو
ماليه د هغه وينه بهيدله
د مراد کشتۍ طوفان کړه درې ورې
بس يو څو قدمه وړاندې له منزله
ماوی: څوک دی د کوم ځای او څه ئې نوم دی؟
را نمايه ای کمبختې ژر کړه هله
وی ئې: ماه د پښتونخوا له کوه طوره
موسی خويه پښتنو ته ځليدله

د پیرو له انتظاره پیدا کیږي
د مجروح غوندې دنیا کې کله

بویه بیا چې بهاؤالدین غوندې مړاوړي
په آسانه که پیدا شي ، ده مشکله

چې په خپله د خپل کور ډیوې وژني
هایٔ شعبه د داسې قوم له تغافله!

الحاج غلام فاروق "چشتي"

دستر مجاهد

# شهيد بهاؤالدّين "مجروح"

# په ياد

آرمانجن عادي كسان په غم دځان وي
ځيني ځيني خيراندیش د كل جهاں وي
يو يو كس جمال الدين بهاؤالدين شي
په دانش او عمل فخر د افغاں وي
ها، مثل دى سل دے ومړ يو دے مه مړه
په يوه يوه سرې ملت ودان وي
داسې غم چې نور غمونه پرې هير یږي
ضايعه لكه د دے مجروح پوهاں وي
دغه وير ديوه كور او ملّت نه دى
هومره لوى دى چې وير جن په ټول جهاں وي
خدايه استاد غه نمسى د محمّد به
د حسين په څير په سر كفن رواں وي
د عصر خوړ روڼ ستورى د علم
دافغان ولس په زړه كې د روښاں وي
په رښتيا د پيغمبر صادق نمسى وو!
"چشتي" والي پرې رحمت شه خوښاں وي

# د شهید استاد سید بهاؤالدین

## مجروح په مرثیه

پرده و نیسه شهیده خپل تېر ته
هسې نه چې بل محشر ور وړی محشر ته
په روسي مرمیو سوری ځیګر دې یو وړ
چې د وخت پیښو را پیښ کړې پیښو ر ته
چې غاښونه دې ویستل ورته په علم
قسمت وسپارلې هغه تور اژدر ته
چې میدان د دا وری شي ستا یزید به
د حسین بچیه ! څه وائې داور ته
موږ دې وچې شونډې پرېښود وله علمه
خبر نه و وچې ستا تنده وه کوثر ته
چې دې لوی خطر او لس ته مخامخ لید
د سپر غوندې دې ځان ونیوه خطر ته
د "مجروح"[1] مجروح زړګیه وینو لال کړې
د ملي تاریخ د و یار ښکلي افسر ته

[1] سید شمس الدین مجروح

ستا په ویاړ به درست افغان شمله کږ ږدي
ته تنها مایه د ناز نه وې کنړ ته
په سرو وینو لمبېدلی خدای ته لاړې
شه منظور دې شهادت رب اکبر ته
ته شرروې ته د ځان د علم بحر ه
په پرواز کې ځنګه ورته شوې شرر ته
ته سرخرویې په لحد کې پر یو تلې
بنه زېره شي د لمر هم مازدیګر ته
په سیّدپسې دویم فخر افغان وې
چې روان شوې د علمي جهاد سنګر ته
مطمئین یم چې وطن مو آزادېږي
څه امید د بیا عمران به وړو کشور ته؟
چې ګلونه یې بې وخته ورژېږي
د هغې وښې به څه امید وي ګر ته؟
چې د پوهې د ګلې څوکې یې نرېږي
سرلوړي به څه وي غرو نوکې سپین غر ته؟
چې ګذارې د دانا په سر لګېږي
څه بلا نازله شوې ده باختر ته؟
د عرفان بلې ډیوې ته باد پو کلی
ښتګان به بیا د ریږي د چا در ته؟

داد ب مینار جام را نسکور شوی
چې هر چا لا سونه پورته کړو هغه ته
جنایت پټیدی نه شي افشاء کیږي
داو بو وشلي خیژي د سین سر ته
حقیقت لا په تور دی چا ورک کړي
شو پرک به کو څر څه ونیسي لمر ته؟
دهغې ولې ریشې دي په ما سکوکې
چا چې لاسته دی ورکړي د تبر ته
دظلمت لمن لې نوره هم بزه وینم
وارخطا شپه عبث پښه ږدي سپین سحر ته

د رسولؐ د زړه ټوټه چې لې شهید کړه
په محشر به څنګه کوري پیغمبر ته

لی
لار به شي خوږ وندی سوځ نشي سپا
اباسین د خموشانو سمندر ته

عاقبت به شي سکروټه تور مخ پا ته
چې وختونه کړي مجبور ژمی سفر ته

ژغ
د "مجروح" د زړه مرهم کړي خدایه ښه
نوبهار چې شګوفې لا وړي شجر ته

په مزار د شهیدانو دې نُور اوري
څو چې غیږه وي پرانیستي هسک اختر ته

د "پسرلي" د زړه دعا که به قبلیږي
د ظالم وجود شه وا وره تا وده لمر ته

خدایٔ دې پاکه کړي نړۍ له تورېستو
چې نسبت یې سپکاوی دی ټول بشر ته

## مرثیه

# د ښاغلي حمزه صاحب په مرثیې د چشتي

# صاحب مخمس

چا وی د لته څوك په ویو کې لټ پټ شو
د مجروح د شهادت آواز اوچت شو
غریو نیولی ومه ستونی مې تربت شو
که هر څو پخپله لاړو په راحت شو
خو په زړه ونو د دوستانو بې قیامت شو

له نړۍ تیر په بې کچه شهامت شو
چې شهید شو هویدا ئې عظمت شو
له تقیانو او ولیانو په رفعت شو
ښه ثابت ئې دا شرف د سیادت شو
چې فائز په مرتبه د شهادت شو

د افغان په خونړۍ ترخه فضاء کې
کرم مې مه بولئ که ژاړم په دنیا کې
نن د پوهې سیاست په پوره رڼا کې

له جمال افغان نه پس په پښتو بخوا کې
هما یو بهاؤ الدین وُ چې رخصت شو

---

د خونکارو له پستئ نه به څه وایم
د تالو بدو سستئ نه به څه وایم
د مړونو له نیستئ نه به څه وایم
د پښتون د بدبختئ نه به څه وایم
چې غروب لې دا کوکب د سعادت شو

---

د افغان په پرګنو کې لوی ماتم دی
یو روڼ ستوری افول شوی او تورتم دی
په جهان کې د دانش په ستړګو نم دی
په تحقیق موت العالِم موت العالَم دی
پرې شاهد د غر رښتینی روایت شو

---

له دې پیښې زړه قرار د هیچا نه دی
وینې ژارم یاڅ بخت مې په خوا نه دی
ټول پرې ژاړو وایه داغم د چا نه دی؟
دا یوازې د مجروح د بابا نه دی!
دا سې غم دی چې په برخه د ملت شو

که دزړونو ساتل زده کا هغه دل شي
لکه شمعه خپله سوځي بيا دلپل شي
"چشتي" بيا به هسې روڼ څوك په قنديل شي
"حمزه" دا خلا به ډکه په مشکل شي
خوکه فضل د پاك رب پرې ملّت شو

# دپوهاند

## سيّد بهاؤالدّين "مجروح" په ياد

عبدالله "غمخور"

د دانش ګريوانه چا پاره پاره کړي؟
دا د غم شتي مي چاکړه په زړه لګه ؟
دخرد په خونه سره اور ونه بل دي
چا تور ور کړي له چشمانو مردمکه؟

د شعور او داحساس په کور غوغا ده
د فرهنګ ستر ګي دغه نه وچيږي
چي دانا د ن ماني کړي ستر ګي پټي
لوی، واړه ئې په بيلتون باندي ژړيږي

د ضمیر او د وجدان جنازه وشوه
د شمر لاسونه بیا په وینو سره دي
د حسنؑ او د حسینؑ د غوښو بوی دی
اهل بیتو کې څوک بیا په ظلم مړه دي

---

د حیات د فلسفې کتاب شو پوره
دید ور د شرق او غرب د مدرسې لاره
نسلې د اهل ذوق به څوک وکړي؟
چې امام د روشن فکر و د حلقې لاره

---

تا د سر په بیعها حق د دین اداء کړو
په رښتیا سره «سیّد بهاؤالدین» لې
چې سرخرویه د دار ینو بلل کیږي
نه د حق په وینو سور هغه جبین لې!

---

چې غوغائې په جهان باندې خوره ده
د هجرت پر قافله شوی شبخون دی
علمدار د آزادی په وینو رنګ شو
د عالم زړګی پرې ټکه جګرخون دی

بشري جنا يتونه والې دين دي
د دولت د پاره هر ځای هرڅه وشو
ما د علم د بنسټ لپد لي نه وه
راشئ! وينئ د "پوهاند" سره څه وشو؟

---

د کافر او مسلمان او بنکې پرې څاڅې
ستمګره! ته انسان لې که حيوان لې
دغه ظلم د کيد و وچې تا وکړو
دا ته څرنګه کافر او مسلمان لې

---

خلقه راشئ چې پرې وکړو ننواتې
شهسوار د نام و ننګ د قافلې ځې
خطره ده ننه ورندرېږي دي ستر ګې ژاړي
وخت او بخت سانده پدهسې حادثې ځې

---

خپل بنا يئست ورپورې او ر لګه ذکل شو
د حسد باد و نو يو سه و عتد ليبه
هير به نشي ته د موږ شام غريبه

## د پوهاند سيّد بهاؤالدين "مجروح" په غمجنه مړينه

غمخور

دا افغان د ستر کو توردزړې سور لاړ
که د علم د دانش شمس وقمر لاړ
چې خبرې يې د آسمان سره کولې
هغه سر، هغه دماغ، هغه جوهر لاړ
بې له خدايه چې بل چاته سنکته نشو
هغه قد، هغه قامت، هغه پيکر لاړ
چې بها يې د شاهانو سره نشته
هغه لعل، هغه مرجان، هغه گوهر لاړ
دانايې به وايه چاته شي په غاړه
چې دانا د زمانې لاړ و نظر لاړ
تسلي به د دې بزم په چا وشي ؟
چې ساقي لاړو، ساغر لاړو، کوثر لاړ
ناخبره به خبر واخلې د چانه ؟
په خبرو چې پوهېده هغه خبر لاړ
چې دنيا يې منتظره د نظر وه
هغه سوچ، هغه قلم، هغه دفتر لاړ

شه خبر لئ په احوال باندې وطنه
ستا له سره چې قربان ئ هغه سر لاړ
آسمانونه لئ د ځانه سره یوړه
چې آسمان ئ د جهاد هغه سنګر لاړ
اوس که خاورې بادوم نه کوي سود
چې مې بخت له بام و دره مرور لاړ
د اقبال ستورې مې پټ شو په تیاروکې
د شفق کفن په غاړه په سفر لاړ
لاس دې مات شه د هجرت چراغ دې مړه کړه
چې خبر لئ په جهان لکه محشر لاړ
مخ دې تور شه په دار ینوکې غلیمه
ستا د لاسه د عالم په زړه خنجر لاړ
پینبور را ته یارانو کربلا شوه
روب په وینو چې نمسی د پیغمبر لاړ
بهاؤ الدینه ! د وطن دستر کو توره
چې ته لاړې ددې کور شام وسحر لاړ
د مجروح د زړه داغونه د کتو دي
چې یار لاړو دلدار لاړو پسر لاړ

عبداللهٔ غمخورٌ

# ته مي ونه ليدي

اختر به څه کرم بې له تا نه تړمې ونه ليدې
ګيله مې و شوه دخپل ځانه ته مې ونه ليدې
خلك دې بندو دروازو ته ددیدن وولاړ
زينت ونلی له مکانه ته مې ونه ليدې
لاړې کوڅې وې سترګې په آرمان د ليدو
د ديدن تنده وه بې شانه ته مې ونه ليدې
غريب آباد ؤ له حسرته نه غريوني لی
يونيورسټی وه هم بې ځانه ته مې ونه ليدې
غوغا وه کړه دمسعود او دنعيم په خونو
بالاماني وه پريشانه ته مې ونه ليدې
پاچا صاحب ؤ فکر وړی ناکره ؤته دوخت
زړهٔ بې ؤ سترې د دنيانه ته مې ونه ليدې
داختر ورځ وه خوبي نه په خوبزو پوهٔ نشومه
خندا وه ډکه د ژړانه ته مې ونه ليدې
سترګې مې نه شولې مړې ديوا وبل په ديدن
تپوس مې وکړو له هرچانه ته مې ونه ليدې

دوصال قدر را معلوم شو د هجران په لیدو

و سومه څکه بې نیرانه ته مې ونه لیدې

خلك مې و لیدل خوستا تسل بې کله کیږو

د آسماني جهانه ته مې ونه لیدې

تا له خاکي عالمه کړه په رښتیا کړې وه

د نوراني عالم مهمانه ته مې ونه لیدې

په دې نیمګړې دنیاګۍ به څه خوښې وکړي څوك

چې سود ئې نه وي بې له ننداره ته مې ونه لیدې

بهاؤالدینه! تر سبا دې وي تر اختره ومومنې

اختر به څه کړم بې له تا نه ته مې ونه لیدې



"عبدالله غمخور"

# د شهید سید بهاؤالدین مجروح په یاد

نه غورېږي زړونه آرمانونه پسېنه نیولي دي
نه خاندي ګلونه بهارونه پسېنه نیولي دي

هجر دې مهجوره محفلونه پرېشانه کړه
نه راځي د مینې پیغامونه پسېنه نیولي دي
زړه کباب کباب دی صراحي له اوښکو ډکه ده
راشه ساقي راشه! چې جامونه پسېنه نیولي دي
غږ د بیلتانه دی د چمن سینه داغلې ده
ګل دی که بلبل دی نکهتونه پسېنه نیولي دي
لړې د فراق دي راخورې دي په آسمان د خیال
نه چې ورېږي بارانونه پسېنه نیولي دي
داسې اثر نه دی چې زه په کې بې هوښه یم
دغه تورې شپې ته سحرونه پسېنه نیولي دي
لارې آرزو ګانې د عدم په زړه کې پټې شوې
ورځې دي که شپې دي ماښامونه پسېنه نیولي دي

زړهٔ دی ناقراره د دیدن قاتي راغلي ده
سترګي نه مړیږي دید نونه پسنه نیولی دي
بیا شه پوهانه ! د پوهې دنیا وړانه ده
عقل دی که فکر د ماغونه پسنه نیولي دي
څه شوې مصوّره، متفکره چرته لاړې ته؟
تا ته اوس د زړه و نوجها نونه پسنه نیولي دي
یو افغان خونه دی چې زه چا ته په کوته کړم
ستا په غم کې خانه عالمونه پسنه نیولي دي
زیړی مې د رباندې چې روښان دملکه وواته
څه چې څو وطن ته بیل غونه پسنه نیولي دي
دی ماتم سرای کې وایه چا ته پالې کیږې ته
واخله قدمونه چې جشنونه پسنه نیولي دي
ته چې پورته نه شې یو قدم به پورته نکړي څوک
ستا قدم بوسي ته امیدونه پسنه نیولي دي

وخت د کوچیدو دی قافله د کوچ ولاړه ده
ستا لارې ته ګوري قدمونه پسنه نیولي دي

دپوهاند سید بهاؤالدین مجروح دردناک او ویرژړن شهادت د هرچا زړه خوږ کړو، لوی خدای دې د شهید مجروح درجې نورې اوچتې کړي، دغوی پر المناک شهادت دا یو څو د وینو او بنکې قطرې نذر کوم.

«عاصي»

# سیّد بهاؤالدّین مجروح شه

نه قاتل شوې خو دانش دې قتل نه کړو
مرګه! هیڅ عقل شعُور وژلی نه شې

په ما بنام دې د هجرت قافله لوټ کړه
خو د"سپین سحر" نه نُور لوټلی نه شې
د عرفان او د عمل مجروح شهید شو
شه په کور ئې نُور د تولو روح شهید شو

وینې وینې باغ ترې په خزان شه
یا ئې وینې د سبا سپینه رڼا شه
چې مرقد ئې

"وثيق"

# شهيد بهاؤالدين مجروح ته

کوم صفت د ې ای سیّده کرم بیان
دومره ډیر دي لکه ریګ د بیابان
خدمتونه دې ډیر کړي ای شهیده
هم یو سنکاري لکه ستوري دآسمان

ته د ټولو ادیبانو دسرتاج وې
یو سیّد وې بل دې پاک لاره وجدان
جنایات دسرو روسانو دې رسوا کړل
تر ې خبر شوهم واړه جهانیان

ځو کتابه دې لیکلي یادګاري دي
قیمتي دي لکه لعل د بدخشان
په قیمت باندې عالم ادیب پوهیږي
مغفرت دې نصیبه شه د سبحان

روح دې خوښ خوشحاله او سرمیز ې
له خالقه دې درخواست کړو د ایمان
خارجیان دې په فراق باندې ماتم کړي
راټول شوي بې شانا نه دي هم نران

بندې کړې د سر وازې د دفترونو
تول خفه دي ستا په مرګ لکه ځنځان
هم غمجن دې ادیبان او شاعران کل
دوی به لیکي ستا د مرګ قیصې داستان

تا یو داسې تاریخ پرېښود په نړۍ کې
هیر به نه کړي ترقیامته هیڅ انسان
ته خو لاړې شهادت دې مبارک شه
مونږ دې پرې سو دوه په دښت و بیابان

تا خو غم د خوار ونار افغان خوړلو
چې آخر دې قرباني کړو هم خپل ځان
خدای دې صبر ستا سپین بیرې پلار ته ورکړي
هم زوزاد و خپل خپلوان ته بې پایان

ته مړ نه یې دا سلام په پاکه لاړې
دغه درس مونږ ته راکړی دی قرآن
صرف لاړې له جهانه تر جانانه
مبارک دې داسفر شه یو ځل نه په هزار ځله

وثیق سوال کړي خدای دې حورې غلمان درکړي
په جنت کې په خپل فضل و خپل احسان

عبدالباری غیرت

# د مجروح صاحب

## په ویرکې

د مجروح په ویر ماتم کې جهان ژاړي
ځمکه ژاړي، بحر ژاړي آسمان ژاړي

بلبلان د غم ناره وهي په بڼ کې
رباب، چنګ او نی تمام نیستان ژاړي
چې يې ورکړه له علمي پانګه لاسه
دا خو ځکه هم بې د افغان ښاري
زلزلې دي، رعد او برق دی ګرد له ډ
سمندر په غرغړو دی طوفان ژاړي
ستا په غم کې لیکوال ژاړي شاعر ژاړي
عالمان د فلسفې او پوهان ښاري
راډیو د "بي، بي، سي" په چغهار د ه
امریکا غږ، قاهره او المان ژاړي

چې په تپنده تیاره و له جهان ولاړ و
ځکه ستوري او سپوږمۍ شبستان ژاړي

وائې ولې حقیقت او حق مظلوم شو؟
په همدې د حقیقت پلویان ژاړي

ای "غیرته"! په مجروح عالم غمګین دې
نه یواځې لې دوستان او خپلوان ژاړي

قندهار اپريدی

# غيبي ژغ

هاتف ژغ وکړو چې وای دغه له څه دي
چې پېشانې د مجروح پوهاند وازه دي

خو په قبر يې پوهانو داسې وويل...
چې يې نور په موږک مئين کړل نو مړه نه دي

هاتف ژغ نه دی پنځه اتيا ماباسه
درته ګال که د مجروح معلم ميده دي

# مرثیه

نثار احمد اکسیر

چې د غم خبر ئې خپور په ټول جهان شو
یو ادیب ؤ ترې محروم قوم د افغان شو

د دې خاورې محبت ئې په زړه ټینګ ؤ
وفادار ؤ چې د دې ناوې نه قربان شو
آموزګار ئې هندوکش تر په سوران دی
آه، "مجروح" پیکر بندي د قبرستان شو
علمیت ئې هر ډګر کې ؤ مبنا غلی
ځکه ملک ئې په نشتوالي بیابان شو
د خپل قام په غم کې تېر تر سر و مال ؤ
ثبت ئې نوم د شهیدانو په کاروان شو
نوم به ئې لیک شي د افغان زرین تاریخ کې
چې پېرو د زرین دور فریدخان شو

کوم اوصاف به ئې ته و لیکې اکسیره!
حقیقت کې افتخار د هر افغان شو،

-----

حبیب الله "رفیع"

# ځوقطعې

دپوهاندزره :

ولوید له غورځنګ ځني یوخوځند، یوتیپاندزره
یک له علمه زره وُ، وروسبانه، وځلاندزره
کړدجهالت مرموبجروح، مجروح، مجروح، مجرح
دازره وُ زړه کیه! دمجروح غوندي پوهاندزړه

۱۳٦٦/۱۱/۲۵

# علم نه مري :

چې مجروح غوندي عالم په خاورو خرشو
علم مړشو، حکمت مړشو، ادب مړشو

علم نه مري، داسې فکر دي څوک نکړي
"دجاهل په زړ منطق او عقل پړشو"

## د کار زړه ؛

نن مې بيا دی درد يدلی ناقرار زړه
چې مې واورید د مجروح د زړه قرار زړه
لاس دې مات شه! بې احساسه زړه دې مړ شه
چې بې کاره دې له کاره کړه د کار زړه

## د علم څلی ؛

نيشې د استبداد بې احساس سترګې ړندې کړي
لګيا دی د فکرونو ګواو کلي ورانوي

افسوس دی چې مجروح غوندي پوهان له منځه باسي
د علم دښمنان د علم څلي ورانوي

۲۸/۱۱/۱۳۶۶

به خانوادهٔ استاد مجروح

# عقاب مغرور

برتبار دانش و فرهنگ عجب بیداد رفت
اختری دیگر از آن در کام استبداد رفت
خامهٔ او جام لبریز از خمستان ادب
ساقی تردست محفل حضرت استاد رفت
بر لب خندان او بشکست رنگ زندگی
عندلیب خوشنوا از شاخهٔ شمشاد رفت
کوفت عمری تیشهٔ همت به فرق "اژدها"
حیف اگر از بیستون معرفت فرهاد رفت
"رهنورد نیمه شب" از بانگ نی سرمست بود
همچو سرو از گلشن ویران ما آزاد رفت
در "دیار بیخودی" چنگ از نوا افتاده بود
تا به شورش آورد صاحبدل فرزاد رفت
سال‌ها «صاحبدل دیوانه» با «دیو خودی»
گرم پیکار و ستیز اهنگ و پر فریاد رفت
"مارکبرای" تعصب را به مردی سر بکوفت
تیغ خود را آبدار از خون نمود و شاد رفت

وه ! از فرخنده آغاز حجسته عاقبت
گوهری در رود بارمست سعدآباد رفت
باده پرز ور شرق انگند اندر جام غرب
نزد هیگل از دیار جامی و بهزاد رفت
مونس شب های تارش بود بانگ مولوی
رفت اندر کسوت لاتیان حمّاد رفت
"سبز پوشی" از دیار "بامداد" عشق بود
فیلسوف شاعر و مرد خرد بنیاد رفت
نیست غم "مجروح" اگر مقتول شد از تیغ کین
زندهٔ جاوید هرگز می توان از یاد رفت ؟

ای خوش آن عقاب مغروری که تا هنگام مرگ
فارغ از اندیشهٔ فرعون و هم شداد رفت

" محمد اسحٰق نگارگر "

# پوهاند مړو ته

"مختار"

(۱)

چې د قام او د ملت په درد دردمن وُ
چې خادم د خپلې خاورې او وطن وُ
د مظلومو او محرومو سر ستندوی وُ
... او د ظلم استبداد د سره دښمن وُ

(۲)

لوی شاعر وُ، لوی ادیب لوی مفکر وُ
لوی عالم وُ، لوی د پوهې پوهنتون وُ
د موټرو او بنګلو په غم کې نه وُ
د وطن د لیلیٰ عشق کې مجنون وُ

(۳)

نن هغه لویه هستي له منځه لاړه
څوک چې ډېر په افغانیت باندې مین وُ
د افغان په ننګ یې سر ورکړ شهید شو
ننګیالی د ژړا نه بهاوالدین وُ

PROPERTY OF ACKU 722

Aghalibrary.com

# دافغانستان دمجاهد وليكوالو د ټولني

## لخوا چاپ شوي كتابونه

١- دافغانستان دجهادلار "پښتو" دسعدالدين "شپون" ليكنه ١٩٨١ ع

٢- كربلائي جنګ "پښتو" دجوار شاليان ليكنه، دحكيم تنيوال ژباړه او ټولونه ١٩٨٢ ع

٣- دپښتني مور پيغام- پښتو نظم دپوهاند مجروح ليكنه ١٩٨٢ ع

٤- ماتمسرا "اشعار دري" بقلم استاد خليلى ١٩٨٢ ع

٥- سرنوشت مذهب در اتحاد شوروي "دري" مترجم ثابت ١٩٨٢ ع

٦- اژدهاى خودى، سرمنزل آزادى بقلم دكتور سيد بهاؤالدين مجروح ١٩٨٣ ع

٧- لوير هنګامه، "پښتو شعرونه" عبدالله غمخور ١٩٨٤ ع

٨- ياد فرياد، "پښتو او دري شعرونه" دسيد شمس الدين مجروح "بقلم ١٩٨٥ ع

٩- دښمن وپيژنئ، "پښتو" دپوهاند بهاؤالدين "مجروح" ليكنه ١٩٨٨

١٠- اژدهاى خودى، سرمنزل آزادي چاپ دوم ١٩٨٩ ع

١١- نا آشنا سندري، "پښتو" دپوهاند بهاؤالدين "مجروح" شعرونه ١٩٨٩ ع

دافغان اطلاعاتي مركز لخوا چاپ شويدي